د پوهنې وزارت
د تعليمي نصاب، د ښوونکو د روزنې
او د ساينس د مرکز معينيت
د تعليمي نصاب د پراختيا او درسي
کتابونو د تاليف لوی رياست

# اسلامي ښوونه او روزنه

## جعفري مذهب

### شپږم ټولگی

. پـه
ده. له

Ketabton.com

د چاپ کال: ۱۳۹۰ هـ . ش.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د پوهنې وزارت
د تعليمي نصاب، د ښوونکو د روزنې
او د ساينس د مرکز معينيت
د تعليمي نصاب د پراختيا او درسي
کتابونو د تاليف لوی رياست

# د قرآن کريم زده کړه
# او
# اسلامي ښوونه او روزنه
## جعفري مذهب

### شپږم ټولګی

د چاپ کال: ۱۳۹۰ هـ . ش.

## د کتاب د تالیف، څېړنې او تدقیق کمېټې

### لیکوالان:

- محمد عزیز بختیاری.
- حفیظ الله ذکي.

### د تدقیق کمیټې:

### د ښونې او روزنې د وزارت علمي غړي:

- محمد عزیز بختیاری، محمدباقر جعفری، سیدعبدالوهاب رحماني، یار محمد باقری، سید محمد حسین فرهنګ او فاروق انصاری.

**د نورو اورګانو غړي:**

۱. سید حسین عالمی بلخی په ولسي جرګه کې د عدلی او قضایی کمیسیون غړی.
۲. نعمت الله غفاری په ولسي جرګه کې د ښوونې او روزنې او عالی تحصیلاتو د دینی کمیسیون غړی.
۳. مولوی عبدالعزیز په ولسي جرګه کې د ښوونې او روزنې او عالی تحصیلاتو د دینی کمیسیون غړی.
۴. قاضی نذیر احمد حنفی په ولسي جرګه کې د تقنین د کمیسیون معاون.
۵. سید عبداللطیف سجادی د شیعه علماو د شورا غړی.
۶. مولوي عین النعیم د علماو د سراسري شورا غړی.

### د مطالبو فهرست

**د قرآن کریم زده کړه**

د قرآن کریم زده کړه ........................ ۱-۱۶

**د اسلامی ښوونه او روزنه مضمون**

لومړی فصل: عقاید ........................ ۱۷-۳۴
دهم فصل: احکام ........................ ۳۵-۵۵
دریم فصل: آداب او اخلاق ........................ ۵۶-۶۶



(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

بسم الله الرحمن الرحیم

**بسم الله الرحمن الرحيم**

**د پوهنې د وزير پيغام**

**گرانو ښوونکو او زده کوونکو،**

ښوونه او روزنه د هر هېواد د پراختيا او پرمختگ بنسټ جوړوي. تعليمي نصاب د ښوونې او روزنې مهم توکی دی چې د علمي پرمختگ او ټولنې د اړتياوو له مخې رامنځته کيږي. څرگنده ده چې علمي پرمختگ او ټولنيزې اړتياوې تل د بدلون په حال کې وي. له دې امله لازمه ده چې تعليمي نصاب هم علمي او رغنده انکشاف ومومي. البته نه ښايي چې تعليمي نصاب د سياسي بدلونونو او د اشخاصو د نظريو او هيلو تابع شي.

دا کتاب چې نن ستاسو په لاس کې دی، پر همدې ارزښتونو چمتو او ترتيب شوی دی. علمي گټورې موضوعگانې پکې زياتې شوې دي. د زده کړې په بهير کې د زده کوونکو فعال ساتل د تدريسي پلان برخه گرځيدلې ده.

هيله من يم دا کتاب له لارښوونو او تعليمي پلان سره سم د فعالې زده کړې د ميتودونو د کارولو له لارې تدريس شي او د زده‌کوونکو ميندې او پلرونه هم د خپلو لوڼو او زامنو په باکيفيته ښوونه او روزنه کې پرله پسې گډه مرسته وکړي چې د پوهنې د نظام هيلې ترسره شي او زده‌کوونکو او هېواد ته ښې برياوې ور په برخه کړي.

زه پر دې ټکي پوره باور لرم چې زموږ گران استادان او ښوونکي د تعليمي نصاب په رغنده پلي کولو کې ستره دنده او دروند مسؤوليت لري.

د پوهنې وزارت تل زيار کاږي چې د پوهنې تعليمي نصاب د اسلام د سپېڅلي دين له بنسټونو، د وطن دوستی د پاك حس په ساتلو او علمي معيارونو سره سم د ټولنې د څرگندو اړتياوو له مخې پراختيا ومومي.

په دې ډگر کې د هېواد له ټولو علمي شخصيتونو، د ښوونې او روزنې له پوهانو او د زده‌کوونکو له ميندو او پلرونو څخه هيله لرم چې د خپلو نظريو او رغنده وړانديزونو له لارې زموږ له مؤلفانو سره د درسي کتابونو په لا ښه تاليف کې مرسته وکړي.

له ټولو هغو پوهانو څخه چې ددې کتاب په چمتو کولو او ترتيب کې يې مرسته کړې، له ملي او نړيوالو درنو موسسو، او نورو ملگرو هېوادونو څخه چې د نوي تعليمي نصاب په چمتو کولو او تدوين او د درسي کتابونو په چاپ او وېش کې يې مرسته کړې ده، مننه او درناوی کوم.

ومن الله التوفيق

فاروق وردگ

د افغانستان د اسلامي جمهوريت د پوهنې وزير



(c) ketabton.com: The Digital Library

## د قـــــرآن کـــــریم د زده کړې مضمون

# د یادولو برخه (۱)

**<u>لومړی لوست:</u>**

**د مخکنیو یاد شوو سورتونو بیا تکرارول لکه الفاتحه، الناس، الاخلاص، المسد، النصر، الکافرون، الکوثر او الماعون.**

**<u>دویم لوست:</u>**

**د مخکینیو یاد شوو سورتونو بیا تکرارول لکه: قریش ، الفیل، الهمزة، العصر، التکاثر، القارعه، العادیات او الزلزلة.**

**<u>دریيم لوست:</u>**

### د القدر سورت (له تجوید سره تلاوت او یادول)

أَعُوذُ بِاللَّهِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيمِ

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَٰنِ الرَّحِيمِ
إِنَّا أَنزَلْنَاهُ فِي لَيْلَةِ الْقَدْرِ ﴿١﴾ وَمَا أَدْرَاكَ مَا لَيْلَةُ الْقَدْرِ ﴿٢﴾ لَيْلَةُ
الْقَدْرِ خَيْرٌ مِّنْ أَلْفِ شَهْرٍ ﴿٣﴾ تَنَزَّلُ الْمَلَائِكَةُ وَالرُّوحُ فِيهَا
بِإِذْنِ رَبِّهِم مِّن كُلِّ أَمْرٍ ﴿٤﴾ سَلَامٌ هِيَ حَتَّىٰ مَطْلَعِ الْفَجْرِ ﴿٥﴾



(c) ketabton.com: The Digital Library

**ځلورم او پنځم لوست:**

## د التين سورت (له تجويد سره تلاوت او يادول)

أَعُوذُ بِاللَّهِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيمِ

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ
وَالتِّيْنِ وَالزَّيْتُوْنِ ﴿١﴾ وَطُوْرِ سِيْنِيْنَ ﴿٢﴾ وَهٰذَا الْبَلَدِ الْاَمِيْنِ ﴿٣﴾
لَقَدْ خَلَقْنَا الْاِنْسَانَ فِيْٓ اَحْسَنِ تَقْوِيْمٍ ﴿٤﴾ ثُمَّ رَدَدْنٰهُ اَسْفَلَ
سٰفِلِيْنَ ﴿٥﴾ اِلَّا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ فَلَهُمْ اَجْرٌ غَيْرُ مَمْنُوْنٍ ﴿٦﴾
فَمَا يُكَذِّبُكَ بَعْدُ بِالدِّيْنِ ﴿٧﴾ اَلَيْسَ اللّٰهُ بِاَحْكَمِ الْحٰكِمِيْنَ ﴿٨﴾

## د تلاوت برخه (۱)

**شپږم لوست:**

## د المطففين سورت له (۱ــ۱۱) آيتونه (له تجويد سره تلاوت )

أَعُوذُ بِاللَّهِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيمِ

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ
وَيْلٌ لِّلْمُطَفِّفِيْنَ ﴿١﴾ الَّذِيْنَ اِذَا اكْتَالُوْا عَلَى النَّاسِ يَسْتَوْفُوْنَ ﴿٢﴾
وَاِذَا كَالُوْهُمْ اَوْ وَّزَنُوْهُمْ يُخْسِرُوْنَ ﴿٣﴾ اَلَا يَظُنُّ اُولٰٓئِكَ اَنَّهُمْ
مَّبْعُوْثُوْنَ ﴿٤﴾ لِيَوْمٍ عَظِيْمٍ ﴿٥﴾ يَّوْمَ يَقُوْمُ النَّاسُ لِرَبِّ
الْعٰلَمِيْنَ ﴿٦﴾ كَلَّآ اِنَّ كِتٰبَ الْفُجَّارِ لَفِيْ سِجِّيْنٍ ﴿٧﴾ وَمَآ اَدْرٰىكَ
مَا سِجِّيْنٌ ﴿٨﴾ كِتٰبٌ مَّرْقُوْمٌ ﴿٩﴾ وَيْلٌ يَّوْمَئِذٍ لِّلْمُكَذِّبِيْنَ ﴿١٠﴾
الَّذِيْنَ يُكَذِّبُوْنَ بِيَوْمِ الدِّيْنِ ﴿١١﴾



(c) ketabton.com: The Digital Library

**اووم لوست :**

**د المطففين سورت له (۱۲ــــ۱۷) آيتونه (له تجويد سره تلاوت)**

وَمَا يُكَذِّبُ بِهِ إِلَّا كُلُّ مُعْتَدٍ أَثِيمٍ ﴿۱۲﴾ إِذَا تُتْلَىٰ عَلَيْهِ
آيَاتُنَا قَالَ أَسَاطِيرُ الْأَوَّلِينَ ﴿۱۳﴾ كَلَّا ۖ بَلْ ۜ رَانَ عَلَىٰ
قُلُوبِهِم مَّا كَانُوا يَكْسِبُونَ ﴿۱۴﴾ كَلَّا إِنَّهُمْ عَن رَّبِّهِمْ يَوْمَئِذٍ
لَّمَحْجُوبُونَ ﴿۱۵﴾ ثُمَّ إِنَّهُمْ لَصَالُو الْجَحِيمِ ﴿۱۶﴾ ثُمَّ يُقَالُ
هَٰذَا الَّذِي كُنتُم بِهِ تُكَذِّبُونَ ﴿۱۷﴾

**آتم لوست:**

**د المطففين سورت له( ۱۸ــ۲۸) آيتونه (له تجويد سره تلاوت)**

كَلَّا إِنَّ كِتَابَ الْأَبْرَارِ لَفِي عِلِّيِّينَ ﴿۱۸﴾ وَمَا أَدْرَاكَ مَا عِلِّيُّونَ ﴿۱۹﴾
كِتَابٌ مَّرْقُومٌ ﴿۲۰﴾ يَشْهَدُهُ الْمُقَرَّبُونَ ﴿۲۱﴾ إِنَّ الْأَبْرَارَ لَفِي
نَعِيمٍ ﴿۲۲﴾ عَلَى الْأَرَائِكِ يَنظُرُونَ ﴿۲۳﴾ تَعْرِفُ فِي وُجُوهِهِمْ
نَضْرَةَ النَّعِيمِ ﴿۲۴﴾ يُسْقَوْنَ مِن رَّحِيقٍ مَّخْتُومٍ ﴿۲۵﴾ خِتَامُهُ
مِسْكٌ ۚ وَفِي ذَٰلِكَ فَلْيَتَنَافَسِ الْمُتَنَافِسُونَ ﴿۲۶﴾ وَ
مِزَاجُهُ مِن تَسْنِيمٍ ﴿۲۷﴾ عَيْنًا يَشْرَبُ بِهَا الْمُقَرَّبُونَ ﴿۲۸﴾



(c) ketabton.com: The Digital Library

**نهم لوست:**

## د المطففین سورت له ( ۲۹___۳۶) آیتونه (له تجوید سره تلاوت)

إِنَّ الَّذِينَ أَجْرَمُوا كَانُوا مِنَ الَّذِينَ آمَنُوا يَضْحَكُونَ ﴿۲۹﴾
وَإِذَا مَرُّوا بِهِمْ يَتَغَامَزُونَ ﴿۳۰﴾ وَإِذَا انْقَلَبُوا إِلَىٰ
أَهْلِهِمُ انْقَلَبُوا فَكِهِينَ ﴿۳۱﴾ وَإِذَا رَأَوْهُمْ قَالُوا إِنَّ
هَٰؤُلَاءِ لَضَالُّونَ ﴿۳۲﴾ وَمَا أُرْسِلُوا عَلَيْهِمْ حَافِظِينَ ﴿۳۳﴾
فَالْيَوْمَ الَّذِينَ آمَنُوا مِنَ الْكُفَّارِ يَضْحَكُونَ ﴿۳۴﴾ عَلَى
الْأَرَائِكِ يَنْظُرُونَ ﴿۳۵﴾ هَلْ ثُوِّبَ الْكُفَّارُ مَا كَانُوا يَفْعَلُونَ ﴿۳۶﴾

## د یادولو برخه (۲)

**لسم لوست:**

**د التکاثر، القارعه، العادیات، الزلزلة، القدر، او التین د سورتونو له یاده تکرارول.**

**یوولسم لوست:**

### د الشرح سورت (له تجوید سره تلاوت او یادول)

أَعُوذُ بِاللَّهِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيمِ

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَٰنِ الرَّحِيمِ
أَلَمْ نَشْرَحْ لَكَ صَدْرَكَ ﴿۱﴾ وَوَضَعْنَا عَنْكَ وِزْرَكَ ﴿۲﴾
الَّذِي أَنْقَضَ ظَهْرَكَ ﴿۳﴾ وَرَفَعْنَا لَكَ ذِكْرَكَ ﴿۴﴾ فَإِنَّ مَعَ
الْعُسْرِ يُسْرًا ﴿۵﴾ إِنَّ مَعَ الْعُسْرِ يُسْرًا ﴿۶﴾ فَإِذَا فَرَغْتَ فَانْصَبْ ﴿۷﴾
وَإِلَىٰ رَبِّكَ فَارْغَبْ ﴿۸﴾



(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د تلاوت برخه (۲)

**دولسم لوست:**

**د الانفطارسورت له (۱ــــــ۱۲)آیتونه (له تجوید سره تلاوت)**

أَعُوذُ بِاللَّهِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيمِ

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَٰنِ الرَّحِيمِ ○
إِذَا السَّمَاءُ انفَطَرَتْ ①وَإِذَا الْكَوَاكِبُ انتَثَرَتْ ②وَإِذَا الْبِحَارُ
فُجِّرَتْ ③وَإِذَا الْقُبُورُ بُعْثِرَتْ ④عَلِمَتْ نَفْسٌ مَّا قَدَّمَتْ وَأَخَّرَتْ ⑤
يَا أَيُّهَا الْإِنسَانُ مَا غَرَّكَ بِرَبِّكَ الْكَرِيمِ ⑥الَّذِي خَلَقَكَ
فَسَوَّاكَ فَعَدَلَكَ ⑦فِي أَيِّ صُورَةٍ مَّا شَاءَ رَكَّبَكَ ⑧كَلَّا بَلْ
تُكَذِّبُونَ بِالدِّينِ ⑨وَإِنَّ عَلَيْكُمْ لَحَافِظِينَ ⑩كِرَامًا كَاتِبِينَ ⑪
يَعْلَمُونَ مَا تَفْعَلُونَ ⑫

**دیارلسم لوست:**

**د الانفطارسورت له ( ۱۳ــــــ۱۹) آیتونه (له تجوید سره تلاوت)**

إِنَّ الْأَبْرَارَ لَفِي نَعِيمٍ ⑬ وَإِنَّ الْفُجَّارَ لَفِي جَحِيمٍ ⑭
يَصْلَوْنَهَا يَوْمَ الدِّينِ ⑮ وَمَا هُمْ عَنْهَا بِغَائِبِينَ ⑯
وَمَا أَدْرَاكَ مَا يَوْمُ الدِّينِ ⑰ثُمَّ مَا أَدْرَاكَ مَا يَوْمُ الدِّينِ ⑱
يَوْمَ لَا تَمْلِكُ نَفْسٌ لِّنَفْسٍ شَيْئًا ۖ وَالْأَمْرُ يَوْمَئِذٍ لِّلَّهِ ⑲

**څوارلسم لوست:**

## د التکویر سورت له ( ۱ــــــ۱۴) آیتونه (له تجوید سره تلاوت)

أَعُوذُ بِاللَّهِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيمِ

بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ
إِذَا الشَّمْسُ كُوِّرَتْ ﴿١﴾ وَإِذَا النُّجُومُ انْكَدَرَتْ ﴿٢﴾ وَإِذَا الْجِبَالُ
سُيِّرَتْ ﴿٣﴾ وَإِذَا الْعِشَارُ عُطِّلَتْ ﴿٤﴾ وَإِذَا الْوُحُوشُ
حُشِرَتْ ﴿٥﴾ وَإِذَا الْبِحَارُ سُجِّرَتْ ﴿٦﴾ وَإِذَا النُّفُوسُ زُوِّجَتْ ﴿٧﴾
وَإِذَا الْمَوْءُدَةُ سُئِلَتْ ﴿٨﴾ بِأَيِّ ذَنْبٍ قُتِلَتْ ﴿٩﴾ وَإِذَا الصُّحُفُ
نُشِرَتْ ﴿١٠﴾ وَإِذَا السَّمَاءُ كُشِطَتْ ﴿١١﴾ وَإِذَا الْجَحِيمُ سُعِّرَتْ ﴿١٢﴾
وَإِذَا الْجَنَّةُ أُزْلِفَتْ ﴿١٣﴾ عَلِمَتْ نَفْسٌ مَّا أَحْضَرَتْ ﴿١٤﴾

**پنځلسم لوست:**

## د التکویر سورت له (۱۵ــــ۲۹)آیتونه (له تجوید سره تلاوت)

فَلَا أُقْسِمُ بِالْخُنَّسِ ﴿١٥﴾ الْجَوَارِ الْكُنَّسِ ﴿١٦﴾ وَاللَّيْلِ إِذَا عَسْعَسَ ﴿١٧﴾
وَالصُّبْحِ إِذَا تَنَفَّسَ ﴿١٨﴾ إِنَّهُ لَقَوْلُ رَسُولٍ كَرِيمٍ ﴿١٩﴾ ذِي
قُوَّةٍ عِنْدَ ذِي الْعَرْشِ مَكِينٍ ﴿٢٠﴾ مُطَاعٍ ثَمَّ أَمِينٍ ﴿٢١﴾ وَ
مَا صَاحِبُكُمْ بِمَجْنُونٍ ﴿٢٢﴾ وَلَقَدْ رَآهُ بِالْأُفُقِ الْمُبِينِ ﴿٢٣﴾
وَمَا هُوَ عَلَى الْغَيْبِ بِضَنِينٍ ﴿٢٤﴾ وَمَا هُوَ بِقَوْلِ شَيْطَانٍ
رَجِيمٍ ﴿٢٥﴾ فَأَيْنَ تَذْهَبُونَ ﴿٢٦﴾ إِنْ هُوَ إِلَّا ذِكْرٌ لِلْعَالَمِينَ ﴿٢٧﴾
لِمَنْ شَاءَ مِنْكُمْ أَنْ يَسْتَقِيمَ ﴿٢٨﴾ وَمَا تَشَاءُونَ إِلَّا أَنْ
يَشَاءَ اللَّهُ رَبُّ الْعَالَمِينَ ﴿٢٩﴾



(c) ketabton.com: The Digital Library

**شپاړسم لوست:**

**د عبس سورت له ( ۱ــــ۱٦) آیتونه (له تجوید سره تلاوت)**

أَعُوذُ بِاللَّهِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيمِ

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ
عَبَسَ وَتَوَلّٰٓى ﴿١﴾ اَنْ جَآءَهُ الْاَعْمٰى ﴿٢﴾ وَمَا يُدْرِيْكَ لَعَلَّهٗ
يَزَّكّٰٓى ﴿٣﴾ اَوْ يَذَّكَّرُ فَتَنْفَعَهُ الذِّكْرٰى ﴿٤﴾ اَمَّا مَنِ اسْتَغْنٰى ﴿٥﴾
فَاَنْتَ لَهٗ تَصَدّٰى ﴿٦﴾ وَمَا عَلَيْكَ اَلَّا يَزَّكّٰى ﴿٧﴾ وَاَمَّا مَنْ
جَآءَكَ يَسْعٰى ﴿٨﴾ وَهُوَ يَخْشٰى ﴿٩﴾ فَاَنْتَ عَنْهُ تَلَهّٰى ﴿١٠﴾ كَلَّآ
اِنَّهَا تَذْكِرَةٌ ﴿١١﴾ فَمَنْ شَآءَ ذَكَرَهٗ ﴿١٢﴾ فِيْ صُحُفٍ مُّكَرَّمَةٍ ﴿١٣﴾
مَّرْفُوْعَةٍ مُّطَهَّرَةٍ ﴿١٤﴾ بِاَيْدِيْ سَفَرَةٍ ﴿١٥﴾ كِرَامٍ بَرَرَةٍ ﴿١٦﴾

**اوو لسم لوست:**

**د عبس سورت له ( ۱۷ــــــ۳۲) آیتونه (له تجوید سره تلاوت)**

قُتِلَ الْاِنْسَانُ مَآ اَكْفَرَهٗ ﴿١٧﴾ مِنْ اَيِّ شَيْءٍ خَلَقَهٗ ﴿١٨﴾
مِنْ نُّطْفَةٍ خَلَقَهٗ فَقَدَّرَهٗ ﴿١٩﴾ ثُمَّ السَّبِيْلَ يَسَّرَهٗ ﴿٢٠﴾
ثُمَّ اَمَاتَهٗ فَاَقْبَرَهٗ ﴿٢١﴾ ثُمَّ اِذَا شَآءَ اَنْشَرَهٗ ﴿٢٢﴾ كَلَّا لَمَّا يَقْضِ مَآ
اَمَرَهٗ ﴿٢٣﴾ فَلْيَنْظُرِ الْاِنْسَانُ اِلٰى طَعَامِهٖٓ ﴿٢٤﴾ اَنَّا صَبَبْنَا الْمَآءَ
صَبًّا ﴿٢٥﴾ ثُمَّ شَقَقْنَا الْاَرْضَ شَقًّا ﴿٢٦﴾ فَاَنْۢبَتْنَا فِيْهَا حَبًّا ﴿٢٧﴾ وَّ
عِنَبًا وَّقَضْبًا ﴿٢٨﴾ وَّزَيْتُوْنًا وَّنَخْلًا ﴿٢٩﴾ وَّحَدَآئِقَ غُلْبًا ﴿٣٠﴾ وَّفَاكِهَةً
وَّاَبًّا ﴿٣١﴾ مَّتَاعًا لَّكُمْ وَلِاَنْعَامِكُمْ ﴿٣٢﴾



(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

**آتلسم لوست:**

## د عبس سورت له ( ۳۳ــــ۴۲) آیتونه (له تجوید سره تلاوت)

فَإِذَا جَاءَتِ الصَّاخَّةُ ﴿٣٣﴾ يَوْمَ يَفِرُّ الْمَرْءُ مِنْ أَخِيهِ ﴿٣٤﴾
وَأُمِّهِ وَأَبِيهِ ﴿٣٥﴾ وَصَاحِبَتِهِ وَبَنِيهِ ﴿٣٦﴾ لِكُلِّ امْرِئٍ مِنْهُمْ
يَوْمَئِذٍ شَأْنٌ يُغْنِيهِ ﴿٣٧﴾ وُجُوهٌ يَوْمَئِذٍ مُسْفِرَةٌ ﴿٣٨﴾
ضَاحِكَةٌ مُسْتَبْشِرَةٌ ﴿٣٩﴾ وَوُجُوهٌ يَوْمَئِذٍ عَلَيْهَا غَبَرَةٌ ﴿٤٠﴾
تَرْهَقُهَا قَتَرَةٌ ﴿٤١﴾ أُولَٰئِكَ هُمُ الْكَفَرَةُ الْفَجَرَةُ ﴿٤٢﴾

## د یادولو برخه (۳)

**نولسم لوست:**

د القارعه، العادیات او الزلزلة د سورتونو له یاده تکرارول.

**شلم لوست:**

د القدر، التین او الشرح د سورتونو له یاده تکرارول.

**یو ویشتم لوست:**

## د الضحی سورت له (۱ــــ۵)آیتونه (له تجوید سره تلاوت او یادول)

أَعُوذُ بِاللَّهِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيمِ

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَٰنِ الرَّحِيمِ
وَالضُّحَىٰ ﴿١﴾ وَاللَّيْلِ إِذَا سَجَىٰ ﴿٢﴾ مَا وَدَّعَكَ رَبُّكَ وَمَا قَلَىٰ ﴿٣﴾
وَلَلْآخِرَةُ خَيْرٌ لَكَ مِنَ الْأُولَىٰ ﴿٤﴾ وَلَسَوْفَ يُعْطِيكَ رَبُّكَ
فَتَرْضَىٰ ﴿٥﴾

**دوه ویشتم لوست:**

**د الضحی سورت له ( ٦ـــــ۱۱) آیتونه (له تجوید سره تلاوت او یادول)**

أَلَمْ يَجِدْكَ يَتِيمًا فَآوَىٰ ﴿٦﴾ وَوَجَدَكَ ضَالًّا فَهَدَىٰ ﴿٧﴾
وَوَجَدَكَ عَائِلًا فَأَغْنَىٰ ﴿٨﴾ فَأَمَّا الْيَتِيمَ فَلَا تَقْهَرْ ﴿٩﴾
وَأَمَّا السَّائِلَ فَلَا تَنْهَرْ ﴿١٠﴾ وَأَمَّا بِنِعْمَةِ رَبِّكَ فَحَدِّثْ ﴿١١﴾

## د تلاوت برخه (۳)

**درویشتم لوست:**

**د النازعات سورت له ( ۱ـــــ۱۴) آیتونه (له تجوید سره تلاوت )**

أَعُوذُ بِاللَّهِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيمِ

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَٰنِ الرَّحِيمِ
وَالنَّازِعَاتِ غَرْقًا ﴿١﴾ وَالنَّاشِطَاتِ نَشْطًا ﴿٢﴾ وَالسَّابِحَاتِ سَبْحًا ﴿٣﴾
فَالسَّابِقَاتِ سَبْقًا ﴿٤﴾ فَالْمُدَبِّرَاتِ أَمْرًا ﴿٥﴾ يَوْمَ تَرْجُفُ
الرَّاجِفَةُ ﴿٦﴾ تَتْبَعُهَا الرَّادِفَةُ ﴿٧﴾ قُلُوبٌ يَوْمَئِذٍ وَاجِفَةٌ ﴿٨﴾
أَبْصَارُهَا خَاشِعَةٌ ﴿٩﴾ يَقُولُونَ أَإِنَّا لَمَرْدُودُونَ فِي الْحَافِرَةِ ﴿١٠﴾
أَإِذَا كُنَّا عِظَامًا نَخِرَةً ﴿١١﴾ قَالُوا تِلْكَ إِذًا كَرَّةٌ خَاسِرَةٌ ﴿١٢﴾
فَإِنَّمَا هِيَ زَجْرَةٌ وَاحِدَةٌ ﴿١٣﴾ فَإِذَا هُمْ بِالسَّاهِرَةِ ﴿١٤﴾



(c) ketabton.com: The Digital Library

**<u>ځلرويشتم لوست:</u>**

## د النازعات سورت له (١٥ــــ٢٥)آيتونه (له تجويد سره تلاوت )

هَلْ أَتَاكَ حَدِيثُ مُوسَىٰ ﴿١٥﴾ إِذْ نَادَاهُ رَبُّهُ بِالْوَادِ الْمُقَدَّسِ طُوًى ﴿١٦﴾
اذْهَبْ إِلَىٰ فِرْعَوْنَ إِنَّهُ طَغَىٰ ﴿١٧﴾ فَقُلْ هَل لَّكَ إِلَىٰ أَن تَزَكَّىٰ ﴿١٨﴾
وَأَهْدِيَكَ إِلَىٰ رَبِّكَ فَتَخْشَىٰ ﴿١٩﴾ فَأَرَاهُ الْآيَةَ الْكُبْرَىٰ ﴿٢٠﴾ فَكَذَّبَ
وَعَصَىٰ ﴿٢١﴾ ثُمَّ أَدْبَرَ يَسْعَىٰ ﴿٢٢﴾ فَحَشَرَ فَنَادَىٰ ﴿٢٣﴾ فَقَالَ أَنَا رَبُّكُمُ
الْأَعْلَىٰ ﴿٢٤﴾ فَأَخَذَهُ اللَّهُ نَكَالَ الْآخِرَةِ وَالْأُولَىٰ ﴿٢٥﴾

**<u>پنځه ويشتم لوست:</u>**

## د النازعات سورت له ( ٢٦ــــــ٣٣) آيتونه (له تجويد سره تلاوت )

إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَعِبْرَةً لِّمَن يَخْشَىٰ ﴿٢٦﴾ أَأَنتُمْ أَشَدُّ خَلْقًا أَمِ
السَّمَاءُ بَنَاهَا ﴿٢٧﴾ رَفَعَ سَمْكَهَا فَسَوَّاهَا ﴿٢٨﴾ وَأَغْطَشَ
لَيْلَهَا وَأَخْرَجَ ضُحَاهَا ﴿٢٩﴾ وَالْأَرْضَ بَعْدَ ذَٰلِكَ
دَحَاهَا ﴿٣٠﴾ أَخْرَجَ مِنْهَا مَاءَهَا وَمَرْعَاهَا ﴿٣١﴾ وَالْجِبَالَ
أَرْسَاهَا ﴿٣٢﴾ مَتَاعًا لَّكُمْ وَلِأَنْعَامِكُمْ ﴿٣٣﴾



(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

**شپږ ویشتم لوست:**

**د النازعات سورت له( ٣۴ـــــ۴١) آیتونه (له تجوید سره تلاوت )**

فَاِذَا جَآءَتِ الطَّآمَّةُ الْكُبْرٰی ﴿٣٤﴾ یَوْمَ یَتَذَكَّرُ
الْاِنْسَانُ مَا سَعٰی ﴿٣٥﴾ وَبُرِّزَتِ الْجَحِیْمُ لِمَنْ یَّرٰی ﴿٣٦﴾
فَاَمَّا مَنْ طَغٰی ﴿٣٧﴾ وَاٰثَرَ الْحَیٰوةَ الدُّنْیَا ﴿٣٨﴾ فَاِنَّ
الْجَحِیْمَ هِیَ الْمَاْوٰی ﴿٣٩﴾ وَاَمَّا مَنْ خَافَ مَقَامَ رَبِّهٖ وَ
نَهَی النَّفْسَ عَنِ الْهَوٰی ﴿٤٠﴾ فَاِنَّ الْجَنَّةَ هِیَ الْمَاْوٰی ﴿٤١﴾

**اووه ویشتم لوست:**

**د النازعات سورت له ( ۴٢ـــــ۴٦) آیتونه (له تجوید سره تلاوت )**

یَسْـَٔلُوْنَكَ عَنِ السَّاعَةِ اَیَّانَ مُرْسٰهَا ﴿٤٢﴾ فِیْمَ اَنْتَ مِنْ ذِكْرٰهَا ﴿٤٣﴾
اِلٰی رَبِّكَ مُنْتَهٰهَا ﴿٤٤﴾ اِنَّمَاۤ اَنْتَ مُنْذِرُ مَنْ یَّخْشٰهَا ﴿٤٥﴾ كَاَنَّهُمْ
یَوْمَ یَرَوْنَهَا لَمْ یَلْبَثُوْۤا اِلَّا عَشِیَّةً اَوْ ضُحٰهَا ﴿٤٦﴾

**آته ویشتم لوست:**

**د النبأ سورت له ( ۱ـــــــ۱۰) آیتونه (له تجوید سره تلاوت )**

أَعُوذُ بِاللَّهِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيمِ

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَٰنِ الرَّحِيمِ
عَمَّ يَتَسَاءَلُونَ ﴿١﴾ عَنِ النَّبَإِ الْعَظِيمِ ﴿٢﴾ الَّذِي هُمْ
فِيهِ مُخْتَلِفُونَ ﴿٣﴾ كَلَّا سَيَعْلَمُونَ ﴿٤﴾ ثُمَّ كَلَّا سَيَعْلَمُونَ ﴿٥﴾ أَلَمْ
نَجْعَلِ الْأَرْضَ مِهَادًا ﴿٦﴾ وَالْجِبَالَ أَوْتَادًا ﴿٧﴾ وَخَلَقْنَاكُمْ
أَزْوَاجًا ﴿٨﴾ وَجَعَلْنَا نَوْمَكُمْ سُبَاتًا ﴿٩﴾ وَجَعَلْنَا اللَّيْلَ لِبَاسًا ﴿١٠﴾

**نهه ویشتم لوست:**

**د النبأ سورت له (۱۱ــــــ۱۶) آیتونه (له تجوید سره تلاوت )**

وَجَعَلْنَا النَّهَارَ مَعَاشًا ﴿١١﴾ وَبَنَيْنَا فَوْقَكُمْ سَبْعًا شِدَادًا ﴿١٢﴾ وَ
جَعَلْنَا سِرَاجًا وَهَّاجًا ﴿١٣﴾ وَأَنزَلْنَا مِنَ الْمُعْصِرَاتِ مَاءً
ثَجَّاجًا ﴿١٤﴾ لِّنُخْرِجَ بِهِ حَبًّا وَنَبَاتًا ﴿١٥﴾ وَجَنَّاتٍ أَلْفَافًا ﴿١٦﴾

**دیرشم لوست:**

**د النبأ سورت له ( ۱۷ــــــ۲۳) آیتونه (له تجوید سره تلاوت )**

إِنَّ يَوْمَ الْفَصْلِ كَانَ مِيقَاتًا ﴿١٧﴾ يَوْمَ يُنفَخُ فِي الصُّورِ
فَتَأْتُونَ أَفْوَاجًا ﴿١٨﴾ وَفُتِحَتِ السَّمَاءُ فَكَانَتْ أَبْوَابًا ﴿١٩﴾ وَ
سُيِّرَتِ الْجِبَالُ فَكَانَتْ سَرَابًا ﴿٢٠﴾ إِنَّ جَهَنَّمَ كَانَتْ
مِرْصَادًا ﴿٢١﴾ لِّلطَّاغِينَ مَآبًا ﴿٢٢﴾ لَّابِثِينَ فِيهَا أَحْقَابًا ﴿٢٣﴾



(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

**یودیرشم لوست:**

**د النبأ سورت له (۲۴ــــــــ۳۰) آیتونه (له تجوید سره تلاوت )**

لَا يَذُوقُونَ فِيهَا بَرْدًا وَّلَا شَرَابًا ﴿۲۴﴾ إِلَّا حَمِيمًا وَّغَسَّاقًا ﴿۲۵﴾
جَزَآءً وِّفَاقًا ﴿۲۶﴾ إِنَّهُمْ كَانُوا لَا يَرْجُونَ حِسَابًا ﴿۲۷﴾
وَّكَذَّبُوا بِاٰيٰتِنَا كِذَّابًا ﴿۲۸﴾ وَكُلَّ شَيْءٍ أَحْصَيْنٰهُ كِتٰبًا ﴿۲۹﴾
فَذُوقُوا فَلَنْ نَّزِيدَكُمْ إِلَّا عَذَابًا ﴿۳۰﴾

**دو دیرشم لوست:**

**د النبأ سورت له (۳۱ــــــــ۳۷) آیتونه (له تجوید سره تلاوت )**

إِنَّ لِلْمُتَّقِينَ مَفَازًا ﴿۳۱﴾ حَدَآئِقَ وَأَعْنَابًا ﴿۳۲﴾ وَّكَوَاعِبَ
أَتْرَابًا ﴿۳۳﴾ وَّكَأْسًا دِهَاقًا ﴿۳۴﴾ لَا يَسْمَعُونَ فِيهَا لَغْوًا
وَّلَا كِذّٰبًا ﴿۳۵﴾ جَزَآءً مِّنْ رَّبِّكَ عَطَآءً حِسَابًا ﴿۳۶﴾
رَّبِّ السَّمٰوٰتِ وَالْأَرْضِ وَمَا بَيْنَهُمَا الرَّحْمٰنِ
لَا يَمْلِكُونَ مِنْهُ خِطَابًا

**<u>درې ديرشم لوست:</u>**

## د النبأ سورت له (۳۸ــــــــــ۴۰) آيتونه (له تجويد سره تلاوت )

يَوْمَ يَقُومُ الرُّوحُ وَالْمَلَائِكَةُ صَفًّا ۖ لَّا يَتَكَلَّمُونَ إِلَّا مَنْ
أَذِنَ لَهُ الرَّحْمَٰنُ وَقَالَ صَوَابًا ﴿٣٨﴾ ذَٰلِكَ الْيَوْمُ الْحَقُّ ۖ فَمَن
شَاءَ اتَّخَذَ إِلَىٰ رَبِّهِ مَآبًا ﴿٣٩﴾ إِنَّا أَنذَرْنَاكُمْ عَذَابًا قَرِيبًا
يَوْمَ يَنظُرُ الْمَرْءُ مَا قَدَّمَتْ يَدَاهُ وَيَقُولُ الْكَافِرُ يَا لَيْتَنِي
كُنتُ تُرَابًا ﴿٤٠﴾

## د يادولو برخه (۴)

**<u>څلوردېرشم لوست:</u>**

**د الضحى، الشرح او التين د سورتونو له ياده تکرارول.**

**<u>پنځه ديرشم لوست:</u>**

**د القدر، الزلزلة، العاديات او القارعه د  سورتونو له ياد ه تکرارول.**

**<u>شپږ ديرشم لوست:</u>**

**د  التكاثر، العصر، الهمزه او الفيل د سورتونو له ياده تکرارول.**

**<u>اووه ديرشم لوست:</u>**

**د قريش، الماعون، الكوثر، الكافرون، النصر، المسد، الاخلاص، الفلق، الناس او الفاتحه د سورتونو له ياده تکرارول.**



(c) ketabton.com: The Digital Library

# د تلاوت برخه (۴)

**آته ديرشم لوست:**

## د البقرې سورت ۲۵۵ د الکرسي آيت (له تجويد سره تلاوت)

أَعُوذُ بِاللَّهِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيمِ

اَللّٰهُ لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ ۚ اَلْحَيُّ الْقَيُّوْمُ ۚ لَا تَاْخُذُهٗ سِنَةٌ وَّلَا نَوْمٌ ؕ
لَهٗ مَا فِي السَّمٰوٰتِ وَمَا فِي الْاَرْضِ ؕ مَنْ ذَا الَّذِيْ يَشْفَعُ
عِنْدَهٗٓ اِلَّا بِاِذْنِهٖ ؕ يَعْلَمُ مَا بَيْنَ اَيْدِيْهِمْ وَمَا خَلْفَهُمْ ۚ
وَلَا يُحِيْطُوْنَ بِشَيْءٍ مِّنْ عِلْمِهٖٓ اِلَّا بِمَا شَآءَ ۚ وَسِعَ كُرْسِيُّهُ
السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضَ ۚ وَلَا يَـُٔوْدُهٗ حِفْظُهُمَا ۚ وَهُوَ الْعَلِيُّ الْعَظِيْمُ ﴿۲۵۵﴾

**نهه ديرشم لوست:**

## د البقرې سورت وروستني آيتونه (له تجويد سره تلاوت)

أَعُوذُ بِاللَّهِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيمِ

لِلّٰهِ مَا فِي السَّمٰوٰتِ وَمَا فِي الْاَرْضِ ؕ وَاِنْ تُبْدُوْا مَا فِيْٓ
اَنْفُسِكُمْ اَوْ تُخْفُوْهُ يُحَاسِبْكُمْ بِهِ اللّٰهُ ؕ فَيَغْفِرُ لِمَنْ
يَّشَآءُ وَيُعَذِّبُ مَنْ يَّشَآءُ ؕ وَاللّٰهُ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيْرٌ ﴿۲۸۴﴾
اٰمَنَ الرَّسُوْلُ بِمَآ اُنْزِلَ اِلَيْهِ مِنْ رَّبِّهٖ وَالْمُؤْمِنُوْنَ ؕ
كُلٌّ اٰمَنَ بِاللّٰهِ وَمَلٰٓئِكَتِهٖ وَكُتُبِهٖ وَرُسُلِهٖ ۟ لَا نُفَرِّقُ
بَيْنَ اَحَدٍ مِّنْ رُّسُلِهٖ ۟ وَقَالُوْا سَمِعْنَا وَاَطَعْنَا غُفْرَانَكَ
رَبَّنَا وَاِلَيْكَ الْمَصِيْرُ ﴿۲۸۵﴾



(c) ketabton.com: The Digital Library

**<u>ځلوېښتم لوست:</u>**

### د البقرې سورت وروستنی آیت (له تجوید سره تلاوت)

لَا يُكَلِّفُ اللّٰهُ نَفْسًا اِلَّا وُسْعَهَا ۭ لَهَا مَا كَسَبَتْ وَعَلَيْهَا
مَا اكْتَسَبَتْ ۭ رَبَّنَا لَا تُؤَاخِذْنَآ اِنْ نَّسِيْنَآ اَوْ اَخْطَاْنَا ۚ
رَبَّنَا وَلَا تَحْمِلْ عَلَيْنَآ اِصْرًا كَمَا حَمَلْتَهٗ عَلَى الَّذِيْنَ
مِنْ قَبْلِنَا ۚ رَبَّنَا وَلَا تُحَمِّلْنَا مَا لَا طَاقَةَ لَنَا بِهٖ ۚ وَاعْفُ
عَنَّا ۥ وَاغْفِرْ لَنَا ۥ وَارْحَمْنَا ۥ اَنْتَ مَوْلٰىنَا فَانْصُرْنَا
عَلَى الْقَوْمِ الْكٰفِرِيْنَ ﴿٢٨٦﴾

**<u>یو ځلوېښتم او وروستني لوستونه:</u>**

**۱- د المطفِّفين له سورت څخه د کتاب تر پایه د مخکینیو لوستونو تکرارول.**

**۲- د یاد شوو سورتونو (الضحی، الشرح، التین، القدر، الزلزلة، العادیات، القارعه، التکاثر، العصر، الهمزه، الفیل، قریش، الماعون، الکوثر، الکافرون، النصر، المسد، الاخلاص، الفلق، الناس او الفاتحه) اورېدل او تکرارول.**



(c) ketabton.com: The Digital Library

# لومړی برخه: عقاید

لومړی لوست:

## څرنګه کولی شو چې الله ﷻ وپیژنو؟

**هدف:**

په دې باندې پوهېدل چې په دنیا کې ډېر دلایل او نښانې شته چې د الله تعالی په وجود او یووالي باندې دلالت کوي.

**پوښتنې**

۱. آیا پوهیږئ چې څرنګه الله تعالی پیژنو؟

**محمد علي** یو پوه او تکړه زده کوونکی و چې په ابتدایي مکتب کې یې په شپږم ټولګي کې درس وایه. هغه به همیشه د خپلې مور او پلار څخه پوښتنه کوله څرنګه او د کومو لارو څخه کولی شو چې الله تعالی وپیژنو؟

دی ډېرلیوال و چې د الله تعالی د پیژندلو لپاره سمه او صحیحه لار پیدا کړی، تر څو پورې چې الله تعالی ډېر ښه وپیژني. لیکن د ده مور او پلار بې تعلیمه او بې سواده وو او نه یې شوای کولای چې ده ته ښه او مناسب ځواب ورکړي چې هغه قانع کړي. یوه ورځ د محمد علي پلار محمد عثمان ته وویل چې ښه ده، دغه سوال د ښوونکی څخه وکړه چې تا ته ښه سم او قانع کوونکی ځواب درکړي. محمد علي په مناسب وخت کې د دیني علومو ښوونکي ته ورغی او د هغه څخه یې وپوښتل: ښوونکي صاحبه! څرنګه کولی شم چې الله تعالی وپیژنم؟ ښوونکی په ځواب کې وویل: د الله تعالی د پیژندنې لپاره ډېرې لارې شته، او د الله تعالی د پیژندنې د ټولو څخه آسانه لاره دا ده چې موږ په خپل ځان او ټولو مخلوقاتو کې فکر او سوچ



(c) ketabton.com: The Digital Library

وکړو چې څرنګه ښه دقیق منظم ښکلي رنګارنګ پیدا شوی دي، وروسته د لږ ځنډ فکر او سوچ څخه متوجه کیږو چې دغه ټول دقیق منظم او ښکلي رنګارنګ شیان یوازې یو الله تعالی چې حکیم او توانا ذات دی، پیدا کولی شي. ښوونکی صاحب وویل: آیا پوهیږئ چې زموږ بدن (ځان) د ډېرو وړو او کوچنیو حجرو څخه جوړ شوی دی. چې دغه حجرې غیر د میکرسکوب څخه نه لیدل کیږي. دغه حجرې مختلف او رنګارنګ شکلونه لري او هره یوه ځانګړی او مخصوصه وظیفه او دنده تر سره کوي. د مثال په ډول د ماهیچې حجرات د ټول بدن د غړو د حرکت عامل دی او د لیدلو حجرات ټول نوی پیدا کیدونکي او لیدونکي شیان د اعصابو د لارې څخه مغز ته نقل کوي. د اورېدلو حجرات آوازونه او غږونه د اعصابو د لارې څخه مغز ته نقل کوي او د معدې د هاضمې حجرات خپل خاص کارونه او فعالیت اجرا کوي. دغه ټول حجرات په داسې ډول سره یو د بل سره همکاري او کمک کوي چې ټول د انسان د بدن ((ځان)) په خدمت کې په شریکه سره کار او فعالیت تر سره کوي. د مثال په توګه د هاضمې حجرات یوازې او تنها د خپل ځان لپاره خوراکي مواد نه برابروي، بلکه د بدن ټولو غړو ته غذا او خوراک برابروي. که چیرته د انسان د وجود یوه غړی ((اندام)) ته صدمه او ضرر پیدا کړی د بدن ټول حجرات یو د بل سره کمک او مرسته کوي. تر څو پورې چې دغه ضرر لیرې او جوړ کړي. ښوونکی د محمد علي څخه پوښتنه وکړه چې تاسو د دې عجیبه نظم په کمک او مرسته چې د بدن د حجراتو په مینځ کې وجود لري پوهیږې؟ بیا یې وویل: موږ پوهیږو چې یوازې یو الله تعالی ده چې زموږ د بدن حجرات یې دا رنګ منظم او یو د بل سره مرسته کوونکي



(c) ketabton.com: The Digital Library

په پيژندلو سره پيدا کړی دی چې زموږ وظيفه دا ده چې په الله تعالی باندې ايمان ولرو او د ده دستورونو په دنيا او آخرت کې سر لوړي او کامياب اوسو.

### فعاليت (هڅونې):

۱- د ښوونکی صاحب استدلال د الله تعالی په هکله چې خالق او توانا ذات دی په پنځو کرښو کې وليکي.

۲- د ښوونکی صاحب او يا د جومات د ملا امام په مرسته يو بل مثال د نظم کمک مرسته کول بيان کړي تر څو پورې د الله تعالی په وجود دلالت وکړي.

### ارزونه:

آيا زده کوونکي کولی شي چې يو ساده دليل د پيدا کوونکی او خالق په هکله بيان کړي.



(c) ketabton.com: The Digital Library

دوهم لوست:

# د الله ﷻ صفتونه

**هدف:** د الله تعالی د صفتونو سره آشنا کیدل.

## پوښتنې:

۱. د الله تعالی د کومو صفتونو سره آشنايي او بلدتيا لرئ؟

۲. ستاسو په فکر د خدای ﷻ د صفتونو سره آشنايي په ژوند کې څه ډول تاثير او اغيزه لري؟

په تيرو کلونو کې د الله تعالی د يو شمير صفتونو د تقسيم سره پوه او آشنا شوي ياست اوس کولی شئ چې صفات ثبوتي، سلبي او همدارنګه ذاتي صفات او فعلي صفات يو د بل څخه جلا او فرق يې وکړئ. تاسو همدارنګه پوه شوی ياست چې آشنايي او بلدتيا د الله تعالی د صفاتو سره د الله تعالی د پيژندنې په معنی دی نو د همدې کبله د خدای ﷻ د صفاتو پيژندل په موږ لازم او ضروري دی تر هغه ځايه چې الله تعالی کامل مطلق ذات دی او هيڅ ډول نقصان د ده په ذات کې نشته، نو د الله تعالی د مطلق کمالاتو سره آشنا او بلد شو نو کولی شو چې د هغو په لاس ته راوړلو کې کوښښ او زيار وباسو. تر څو پورې د الله تعالی ښه نيک بندګان شو. الله تعالی د ډېرو صفاتو خاوند او څښتن دی. خو په دی درس کې يوازې د خدای دوه صفتونه تر بحث لاندی نيسو، او ګورو چې د دغو دوو صفتونو پيژندنه زموږ په ژوندانه کې څومره مثبت تاثير لري. دغه دوه صفته سمع او بصر يعنې اوريدل او ليدل دي. خدای ﷻ ټول غږو نه او آوازونه اوري غير د دې



(c) ketabton.com: The Digital Library

ځخه چې زموږ په شان غوږونه ولري او هر څه ګوري او ويني غير د دې ځخه چې زموږ په شان سترګې ولري.

خدای ﷻ په هر څه باندې که مخکې وي يا اوس وي يا په راتلونکي وخت کې وي عالم او خبر دی. هېڅ يو داسې شی نشته په دنيا کې چې هغه د الله تعالی د علم د احاطې ځخه وتلی وي.

الله ﷻ د آسمان د ستورو او لمرو او نورو سيارا تو په حالاتو او زموږ د ژوند د هرې شيبې په حالاتو او حتی اتم او ډير وړو ذرو باندې چې هغه تر اوسه انسان ندی تشخيص کړی علم او خبرتيا لري او دغه ټول شيان په هره شيبه او لحظه کې ډير په دقيقه توګه سره تر هغه چې موږ يې ګورو او تصور او فکر يې کوو ويني او د هر شي په غږونو چې پوه او خبر دی او د دوی په زړونو کې چې څه تيريږي په هغه عالم دی.

د پورتنی مطالبو ځخه څه نتيجه اخلئ؟ شايد چې تاسو ځينې خلک وپيژنئ چې د خلکو په مخ کې هيڅ بد کار نکوي مګر په پټه کې ډير بد او ناوړه کارونه سرته رسوي دوی ولي داسې کوي؟

د دې لپاره دا کار کوي تر څو پورې چې د خلکو په مينځ کې بد او خراب معرفي نشي او د دې لپاره چې خلک دی ښه نيک عمله او ښه سړی وپيژني. نو موږ که ښه پام شو او دقت وکړو پوهيږو چې دغه رنګه خلک پوره او کامله عقيده په سمع او بصر صفتونو د الله تعالی نلري، ځکه په هغه وخت کې ده بايد باور درلودای چې الله تعالی په هر ځای او هر حال کې سړی ته ګوري او په هغه عالم دی. نو کله چې نه غواړو چې نور خلک چې هېڅ کار د هغو د لاسه نه کيږي زموږ په بدو کارو



(c) ketabton.com: The Digital Library

پوه شي.نو څنګه کولی شو چې د الله تعالی د لیدنې په برابر کې د بدو او ناوړو کارونو مرتکب شو؟

## هځوني:

١. د درس خلاصه مطلب په پنځو کرښو کې ولیکئ؟
٢. ستاسو په فکر عقیده لرل په سمیع (اوریدل) او بصیر(لیدل) د الله تعالی څومره تاثیر او اغیز لري زموږ د ژوندانه په کړو وړو کې په لسو کرښو کې یې ولیکئ؟

## ارزونه:

١. آیا زده کوونکو د الله تعالی د صفاتو مفهوم پیژندلی دی؟
٢. آیا زده کوونکي د الله تعالی د صفاتو د پیژندلو په ګټې پوه شوی دی.



(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

دریم لوست:

# د انبیا(ع) عصمت

**هدف: د انبیاء(ع) له عصمت سره آشنايي**

**پوښتنې:**

۱- آيا د عصمت په معنا پوه ياست؟

۲- آيا پوهېږئ چې الهی انبیاء(ع) معصوم دي؟

کله چې تاسې غواړئ يو مهم پيغام يوه ځای ته ورسوئ زيار باسئ چې هغه څوک د قاصد په نامه سره وټاکئ چې لومړی رښتياويونکی او سم کاروي دوهم دا چې هېرکوونکی نه وي ترڅو وکولي شي ستاسې پيام مقابل لوري ته په سمه توګه ورسوي.

حکيم او دانا خدای جل جلاله دا مسئله په لومړۍ توګه د انبياء(ع) په رالېږنه کې ترخپلې پاملرنې لاندې ساتلې ده نو د الله تعالی پيغمبران د الله تعالی پيام د هغه بندګانو ته پوره رسولی دی.

که چېرې دوی (پيغمبران(ص)) هېره وونکی يا درواغ ويونکی وي هيڅ چا نه شوی کولی د هغوی په خبرو باندې ډاډ اعتماد وکړي که چېرې څوک اعتماد وربانديې وکړي په ګمراهۍ کې به لوېدلی وي، نو د انسان سليم عقل په دې حکم کوي چې حکيم الله تعالی خپل پيامبران له هر ډول ګناه او اشتباه او هېرونې څخه معصوم ګرزولي دي.

نو د انبياء (ع) معصوم والی په دې معنا دی چې دوی (ع) هېڅ کله ګناه نه ده کړې، هېڅ کله دوی له نسيان او هېرونې سره نه مخامخ کېدل، خلکو ته يې فرېب (دوکه) نه ورکوله دوی رښتياويوونکي درست کار او د خلکو د پوره اعتماد وړ وو له دې کبله د

هغوی ټولې خبرې، عملونه د اعتماد وړ دي، نو کوم پیام چې دوی د الله تعالی له لوري راوړی دی هېڅ شک او شبهه په کې وجود نه لري د دوی وینا ټوله درسته ده.

**فعالیت (هڅونې):**

۱- دعصمت معنا ولیکئ.

۲- انبیاء(ع) د کوم ډول اشتباهاتو څخه معصوم دي.

**ارزونه:**

۱- آیا زده کوونکی د عصمت معنا درک کړې ده؟

۲- آیا دوی کولی شي د انبیاء(ع) په عصمت استدلال وکړي؟



(c) ketabton.com: The Digital Library

**څلورم لوست:**

# قرانکريم

**هدف:** د قرانکريم سره آشنايي.

**پوښتنې:**

۱. آيا تاسې قرانکريم لولئ او تلاوت يې کوئ؟
۲. آيا د قرانکريم ترجمه لولئ؟

الله تعالی د خپلو بنده ګانو د لارښوونې او هدايت لپاره خپلو پيغمبرانو(ع) ته د خلکو د لارښوونې لپاره کتابونه نازل کړی دي د مثال په توګه زبور يې په داؤد(ع) تورات يې په موسی(ع) انجيل يې په عيسی (ع) او قرانکريم يې په محمد صلی الله عليه وسلم باندې نازل کړي دي.

قرانکريم د الله تعالی کتاب دی چې زموږ په پيامبر حضرت محمد مصطفی صلی الله عليه واله وسلم باندې نازل شوی دی.

قرانکريم د ۲۳ کالو په ترڅ کې په مختلفو شرايطو کې په نبي اکرم صلی الله عليه واله وسلم نازل شوی دی، موږ په ټولو پيامبرانو او دهغوی په کتابونو باندې ايمان لرو او د هغوی درناوی کوو، ولې کتاب قرانکريم له نورو آسماني کتابو سره توپيرونه لري چې د هغه پېژندنه ډېر ارزښت لري.

- دا چې دا کتاب جاويداني او دايمي دی، د نورو پيامبرانو کتابونه د يوې ټاکلې دورې لپاره وو، د نوي او راتلوونکی شريعت په راتلو سره منسوخ کيدل مثلاً تورات چې د حضرت موسی (ع) شريعت او کتاب دی د انجيل په نزول او د حضرت عيسی(ع) په کتاب او شريعت سره منسوخ شو ولې قرانکريم او د اسلام ښکاره دين د قيامت تر ورځې پورې نه منسوخ کېږي او باقي دی.



(c) ketabton.com: The Digital Library

- قرآنکریم تحریف شوی نه دی، نور آسماني کتابونه له یوې مودې څخه وروسته له تحریف سره مخامخ شوي دي ولې قرانکریم وروسته له څلوارلسو پیړیو څخه له تحریف او بدلون څخه پرته باقي پاتې دی.
- قرانکریم د حضرت محمد مصطفی صلی الله علیه و اله وسلم جاویداني (دایمي) معجزه ده د پوهې په لحاظ یې د ډېرې لویې پوهنې بشر ته وړاندې کړې دي د فصاحت او بلاغت په لحاظ د بشر له سویې څخه لوړ شاهکار دی چې هیڅ انسان نه شي کولی د هغه په شان یوه څه ولیکي یا وواییي.

**هڅونې:**

۱. د خپلو کتابچو په یوه جدول کې هغه توپیرونه ولیکئ چې قرانکریم یې د نورور آسماني کتابونو، سره لري.

۲. د جومات د روحاني په مرسته، د لوست محتوی ته په توجه سره قرانکریم او نور آسماني کتابونه سره مقایسه کړئ هغه امتیازونه چې قرآنکریم د نورو آسماني کتابونو په پرتله لري په ګوته کړئ.

**ارزونه:**

۱. آیا زده کونکي د قرآن کریم او نورو ټولو آسماني کتابونو اساسي ځانګړتیاوې تشخیص کولای شي؟



(c) ketabton.com: The Digital Library

پنځم لوست:

# معاد یا قیامت (آخرت)

**هدف:** د معاد (آخرت) یا وروسته له مرګ څخه د بیا ژوندون سره آشنایي.

**پوښتنې:**

۱. د معاد په هکله څه معلومات لرئ؟
۲. آیا کولی شئ د معاد (آخرت) په هکله استدلال وکړئ؟

تاسې په تېر کال کې د معاد (آخرت) یا وروسته له مرګ څخه د بیا ژوندون په هکله ډېر معلومات او مطلبونه ویلي دي، تاسې په دې پوهېږئ چې انسان وروسته له مرګ څخه پوره له مینځه نه ځي، بلکې په یوه ټاکلي وخت کې الله تعالی ټول انسانان بیا ژوندي کوي، او د ټولو خلکو عملونه تر محاسبې لاندې نیسي تر څو ټولو ته پوره ښکاره شي چې چا په دنیا کې ښه کارونه کړي دي او جنت ته ځي او چا بدکارونه تر سره کړي دي او دوزخ ته ځي. همدا راز ویلي مو دي چې د معاد (آخرت) عقیده په ټولو آسماني ادیانو کې د توجه وړ وه، د ټولو آسماني ادیانو پیروان په آخرت باندې اعتقاد لري د اسلام مبین دین چې د آسماني ادیانو اخیرنی او کامل دین دی د معاد (آخرت) په هکله یې زیات تاکید کړی دی او په قرآنکریم کې ډېر زیات آیتونه د آخرت په باره کې اختصاص لري.

ډېره مهمه مسئله داده چې دنیا او آخرت یو له بل سره اړیکې لري. لکه چې په یوه مبارک حدیث کې راغلی دي ( هر څه چې انسان په دنیا یې کړي په آخرت کې به هغه ترلاسه کړي).

د معاد (آخرت) په باره کې زیات دلیلونه شته دي او د هغوی ډېر ارزښتمن دلیل د انسان فطرت دی، انسان په خپل باطن کې د جاویدانۍ احساس کوي حتی



(c) ketabton.com: The Digital Library

هغه ډله خلک چې په آخرت ایمان هم نه لري او داسې فکر کوي چې آخرت او راتکونکی ژوندون ته اړتیا نشته بیا هم زیار باسي چې نوم او شهرت له خپل ځان څخه پرېږدي تر څو وروسته له مرګ څخه د تحسین او ستاینې مورد وګرزي.

دوهم مهم دلیل یې د الله تعالی حکمت دی. تاسې فکر وکړئ چې نړۍ یې په ښکلي، نظم او دقت سره پیدا کړې ده که داسې فرض شوې وي چې ژر دې ډانړۍ له منځ څخه لاړه شي او هېڅ نتیجه دې هم ورباندې مرتبه نه وي آیا په دې صورت کې به ټول کارونه لغو او بې ګټې نه وي؟ نو الله تعالی دا نړۍ د دې لپاره پیدا کړې ده چې انسانان په هغه کې وروزل شي او په آخرت (بل جهان) کې د خپلو عملونو نتیجه ترلاسه کړي.



**فعالیت (هڅونې):**

۱. ستاسې له نظره ولې په ټولو آسماني ادیانو کې په معاد (آخرت) باندې عقیده موجوده وه؟

۲. آیا تاسې کولی شئ د آخرت په هکله یو دلیل ووایئ؟



**ارزونه:**

۱. آیا زده کوونکي کولای شي د معاد په باره کې استدلال وکړي؟



(c) ketabton.com: The Digital Library

شپږم لوست:

# د رحمت نبي (رحم لرونکی نبي(ص))

**هدف:** د اسلام د نبی د شخصیت سره آشنایی.

**پوښتنې:**

۱. تاسې د حضرت رسول اکرم له شخصیت سره تر کومې اندازې آشنایی لرئ ؟

۲. تاسې پوهیږئ چې رسول اکرم څومره د خپلو اصحابو (یارانو) په منځ کې محبوب وو؟

د لویو انسانانو د ځانګړتیا وو څخه یوه هم داده چې د خپلوپیروانو او طرفدارا نوپه زړو کې نفوذ لری دا ډول افراد تل احساس لرونکی طرفداران، او ډېرکینه لرونکی مخالفان هم لري، حضرت محمد مصطفی صلی الله علیه واله وسلم چې اشرف کائنات اوسید انبیا (ع) دی داسې لوړ ممتاز(ارزښت ناک) شخصیت یې درلودچې یاران یې په ټول موجودیت سره دهغه دشخصیت مینان وو داپه دی سبب وو چې حضرت رسول صلی الله علیه واله وسلم دډېر و لوړوا خلاقو او پوره ادب څخه برخه لرله، هغه(ص) هیڅ کله خپل کارونه بل چاته نه سپارل کله چې هغه (ص)په مجلس کې کښیناست داسې ځای ځان ته غوره کاوه چې له نورو څخه لوړ او بهتر نه وي نو که چیرې یو نا آشنا سړی مجلس ته راتله او هغه یې په څیره نه وو پیژندلی په دې نه پوهیده چې کوم یو پیامبردی.

ډېره ښه ده چې په دې ځای کې یوه کیسه د حضرت رسول الله د محبوبیت په باره کې ووایو: پیغمبراکرم صلی الله علیه واله وسلم دخپل شریف ژوند په آخرنیو



(c) ketabton.com: The Digital Library

ورځوکې له خلکو څخه و غوښتل چې په جومات (مسجد) کې را ټول شي تر څو حضرت رسول اکرم له هغوی سره خبرې وکړي.

خلک ډېر په اشتیاق را ټول شول چې د الله تعالی پیغمبر د خپل عمر آخرینو ورځو کې د خلکوسره څه ډول خبرې کوي، جومات د خلکو څخه ډک وو، حضرت محمد صلی الله علیه واله وسلم له دوي سره خبرې کولې، رسول الله خلک دیانت لرنې تقوی ته دعوت کول په اخر کې یې وفرمایل چې زه ناروغ یم ښایي د الله تعالی ملاقات ته لاړشم که چېرې څوک کوم حق په ما باندې لري و دې وایي چې هغه له رحلت څخه مخکې ادا کړم!

ټول پټه خوله پاتې شول ډېر خلک د دې خبرې په او رېدلو سره په ژړاشول! په دې وخت کې یو سړی جګ شواوپه لوړ آوازسره یې وویل: ای رسول الله صلی الله علیه واله وسلم زه یو حق پرتا لرم غواړم چې هغه اداکړې حضرت رسول صلی علیه واله وسلم و فرمایل څه حق، ووایه چې هغه ادا کړم ویې ویل په یوه غزاکې تا غو ښتل چې په خپله متروکه سره خپل اوښ ووهې ولې په اشتباه سره هغه ځما په ګېډه ولګیده زه غواړم د هغې قصاص و اخلم! خلک حیران اونا را حته شول چې دا سړی د حضرت رسول الله څخه څه غو اړی!

ساوی په سینو کې بندې شوې خلک منتظر وو چې څه کېږی! حضرت رسول الله صلی الله علیه وسلم و فرمایل: زه آماده (تیار) یم چې ته له ما څخه قصاص واخلې خلک نورنا را حته شول او په بې صبرۍ سره یې انتظار وېست چې څه کېږی هغه پیغمبر (ص) ته ور نژدې شو خلکو فکر کاوه چې قصاص اخلی ولې هغه د حضرت



(c) ketabton.com: The Digital Library

رسول الله صلی الله واله وسلم سینه ښکل کړه او و يې ويل چې مادا هيله درلوده چې د پيغمبرسينه ښکل کړم.

**فعاليت (هڅونې):**

۱. د لوست خلاصه په لسو سطرو (کرښو) کې وليکئ:

۲. د لوست کيسه خپلو کورنيو ته بيان کړئ:

۳. د دې کيسې په هکله مو خپل نظر په پنځو کرښو کې وليکئ:

**ارزونه:**

۱. آيا زده کوونکي کولای شی د نبي صلی عليه و اله وسلم د شخصيت په هکله توضيحات ورکړي؟



(c) ketabton.com: The Digital Library

اووم لوست:

# خپل امامان باید و پېژنو

**هدف**: دا مامانو له شخصیتونو او ژوند سره آشنایي

## پوښتنې:

۱. د لسم امام نوم څه دی؟
۲. آیا د یوولسم امام نو م موزده دي؟
۳. آیا امام زمان پېژنئ؟

ز موږ نهم امام حضرت امام محمد تقی علیه السلام دی، پلار یې امام رضا علیه السلام دی د هغه مبارک دکنیې نوم ابو جعفر دی د هغه له ډیرو مشهورو القابو څخه تقي او جواد دی امام جواد علیه السلام د یو سل او پنځه نوی (**۱۹۵**) هجري قمري کال کې د روژې په میاشت په مدینه منوره کې تولد شو او امام محمد تقی د **۲۵** کلنۍ په عمر د **۲۲۰** هجری قمری کال د ذی القعدې په میاشت کې په شهادت ورسید.

## امام علی هادی:

زموږ د لسم امام نوم علي دی. هادي او نقي یې له مشهورو القابو څخه دي پلار یې نهم امام جواد دی او موریې فضیلت لرونکی ښځه حضرت سمانه وه.

دي د ذی الحجې د میاشتې په اتمه په **۲۱۲** هجري قمري کال کې د مدینې منورې له محلاتو څخه د صربا په نوم په یوه محله کې په ژوند ګام کېښود.



(c) ketabton.com: The Digital Library

امام هادي هم د خپل پلار په څېر په لږ عمر کې امامت ته ورسېد او د امامت موده يې **۳۳** کاله وه کله چې متوکل د عباسيانو (خليفه) په خلکو کې د امام له محبوبيت څخه ويرېدلو نو امام يې مجبور کړ چې له مدينې منورې څخه سامراء (عباسيانو پلازمينې) ته لاړ شي په هغه ځای کې يې امام خلکو سره د هر ډول تماس او ملاقات څخه منع کړل په پای کې يې په **۲۵۴** کال کې د سامرا په ښار کې امام مسموم او په شهادت ورسېد.

**امام حسن عسکري:**

امام عسکري د شيعيانو يوولسم امام د امام هادي زوی دی چې د جمعې په ورځ د **۲۳۲** هجری قمری کال دربيع الثاني په اتمه زيږيدلی دی مور يې ډېره پرهېزګاره ښځه وه چې نوم يې حديثه يا سوسن ده، امام څلور کلن وو چې د خپل پلار سره د اجبار له مخې سامرا ته راغئ او په يوه نظامي منطقه کې تر نظارت لاندې ونيول شو او په همدې ځای کې يې خپل ژوند ته ادامه ورکړه. له همدې کبله په عسکري سر ه مشهور شو، د ده د امامت دوره شپږ (۲) کاله وه او د **۲۶۰** قمری کال د ربيع الاول په اتمه نيټه مسموم او شهيد شو. ده په همدې څو کالو کې داسې علمي او اخلاقي شهرت ومومند چې له هر ځای څخه يې خلک ليدلوته راتلل، له همدې کبله دی يوه موده د حکومت له خوا زندانی شو. ولې ده په روحانی توان او قوت سره وکولی شو چې ټول بنديان تر خپل تاثير لاندې راولی.



(c) ketabton.com: The Digital Library

## امام زمان مهدي موعود:

دوولسم پیشوا حضرت حجة بن حسن المهدی (ع) دی هغه (ع) د شعبان د میاشتې په ۱۵- ۲۵۲ هجري قمري کال کې، د سامراء په ښارکې خپلې سترګې د نړۍ (ژوند) په لور خلاصی کړې.

د ده له القابو څخه حضرت (حجت) (قائم) (خلف صالح) (صاحب الزمان) (بقیة الله) او ډېر مشهور لقب یې مهدي دی، پلار یې حضرت امام عسکري او موریې فضیلت لرونکی ښځه حضرت (نرجس) ده.

حضرت مهدي د ژوند له پیل څخه په پټه (خفا) ژوند کړی دی او د غائب والی دوې (۲) دورې لري، لنډ غیبت (غیبت صغری) اوږد غیبت (کبری غیبت) چې لنډ غیابت یې د پلار له شهادت څخه وروسته تر ۳۲۹ کاله یعنی ۶۹ کاله دوام کړی دی په دې موده کې امام زمان د خپلو نائبانو په وسیله له شیعیانو سره تماس ساتلی دی او اوږدغیابت یې (کبری غیابت) د له ۳۲۹ څخه کله چې اخیرنی خاص نائب یې مړ شو پیل شو او تر هغه پورې چې الله تعالی ده ته د ظهور اذن وکړی ادامه به وکړي کوم وخت چې امام زمان ظهور وکړی نړۍ به د عدالت څخه پوره برخمنه وي او د ستم او ظلم جرړی به پوره له منځ څخه وتلې وي.

### فعالیت (هڅونې):

۱ . امام مهدي څوکاله عمر تېر کړی دی؟

۲ . د امام حسن عسکري د امامت دوره څوکاله وه؟

۳ . څه فکر کوئ چې ولې امام زمان علیه السلام غائب دی؟



(c) ketabton.com: The Digital Library

# دوهمه برخه: احکام

اتم لوست:

## د روژې احکام

**موخه**: د روژې له احکامو سره آشنايي.

**پوښتنې**:

۱. آيا تاسې روژې نيسئ؟

۲. آيا د روژې د احکامو په برخه کې څه معلومات لرئ؟

روژه له دې څخه عبارت ده چې انسان د الله تعالی د فرمان (حکم) د ترسره کولو په لحاظ د سبا له آذان څخه د ماښام تر اذان پورې له هغه کارونو څخه چې روژه وربانديې باطلېږي ځان وساتئ.

د رمضان په مبارکه مياشت کې روژه نيول واجب دی.

په روژه کې نيت کول شرط دی ولې لازم نه دي چې نيت په ژبه سره وويل شي بلکې که چېرې په زړه کې نيت وکړې (چې د الله تعالی د حکم د پر ځای کولو په خاطر روژه نيسم) روژه يې صحيح ده.

ولې بهتره ده چې انسان هره ورځ د شپې نه مخکې نيت وکړي.

همدا راز مستحب ده چې له اذان څخه مخکې انسان يو څه (سحرنۍ) غذا وخوري تر څو روژه نيولوته پوره آماده واوسي.



(c) ketabton.com: The Digital Library

**فعاليت** (**هڅوني**):

۱. زده کوونکي دې د روږې د کيفيت په هکله د ډلو په ترڅ کې يوله بل سره خبرې وکړي.

**ارزونه**:

۱. څوک کولی شي د روږې نيولو کيفيت توضيح ورکړي؟



(c) ketabton.com: The Digital Library

نهم لوست:

# د روژې مبطلات (باطل کوونکي)

**موخه:** د روژې د باطل کوونکو پېژندنه.

**پوښتنې:**

۱. آیا پوهېږئ چې څو شیان روژه باطله کوي؟

د روژې مبطلات هغه شیانو ته وایي چې په قصد سره د هغه تر سره کول روژه باطله کوي او د روژې مبطلات په لاندې ډول دي:

۱- خوړل او څښل

۲- جنب کېدل

۳- په خدای تعالی، پیغمبر(ص)، یا له دوولسو امامانو څخه په یوه امام پورې دروغ ویل.

۴- ستوني ته د ډېر درانه غبار (ګرد) رسېدل.

۵- په اوبو کې د ټول سر ډوب کول.

۶- په جنابت، حیض یا نفاس کې د سبا تر اذان پورې پاتې کېدل.

۷- په مایع شیانو سره اماله کول.

۸- قي کول.

که چېرې روژه لرونکی یو د پورتنیو شیانو څخه په سهو سره تر سره کړي روژه یې نه باطلېږي باید خپلې روژې ته ادامه ورکړي.



(c) ketabton.com: The Digital Library

**فعالیت** (**هڅونې**):

۱. د روژې مبطلات کوم شیان دي؟

۲. که یو سړی په سهو سره څه وخوري څه حکم لري؟

**ارزونه**:

څوک کولئ شی د روژې د مبطلاتو نومونه واخلي؟



(c) ketabton.com: The Digital Library

**لسم لوست:**

# هغه موردونه (ځایونه) چې کولی شو روژه ماته کړو

**موخه:** د هغه ځایونو پېژندنه چې کولی شو روژه ماته کړو.

**پوښتنې:**

۱. آیا مسافر هم روژه نیسی؟
۲. آیا داسی حالتونه شته چی روژه دار کولای شی پکی خپله روژه ماته کړی.

روژه نیول د دین له فروعاتو څخه دی هر کال یوه میاشت ټول هغه مسلمانان کوم چې د روژې نیولو د شرطونو لرونکی وي، باید روژه پکی ونیسی چې هغه د رمضان د مبارکې میاشتې روژه ده.

روژه زیاتې معنوي، جسمي او ټولنیزې ګټې لري د رمضان د مبارکې میاشتې روژه نیول په هر بالغ او د شرایطو لرونکی مسلمان باندې واجب دی.

او نه ښایي په دې میاشت کې څه و خورئ البته داسې ځایونه هم شته دي چې کولی شو د رمضان د مبارکې میاشتې روژه ماته کړو په دې لوست کې هغه ځایونه بیان وو او په لاندې ډول دي:

۱. که چېرې سړی ناروغ وې او روژه نیول ورته زیان رسوي نه ښایي چی روژه ونیسي.
۲. که څوک سفر ته ځي او د سفر د تلو او راتلو لاره د اتو (۸) پرسخو په اندازه وی نو باید روژه ماته کړي.
۳. هغه مور چې خپل ماشوم ته شیدې ورکوي، اوشیدې ورکول دې ته یا ددې ماشوم ته زیان رسوي نه ښایي روژه ونیسي.



(c) ketabton.com: The Digital Library

۴. هغه انسان چې ډېر زوړ شوی وي او روژه نیول ورته ګران وي کولی شي خپله روژه ماته کړي.

پرته له اخیرني مورد څخه په دریو نورو مورد وکې باید وروسته د روژې قضایي په ځای کړي یعنې کوم وخت یې چې عذر رفع شي باید روژه ونیسي.

**فعالیت (هڅونې):**

زده کوونکی دې د دریو ډلو په ترڅ کې د روژې د شرعي عذرونو په هکله خبرې وکړي.

**ارزونه:**

آیا ویلی شئ چې مسافر په کوم صورت کې خپله روژه ماتولي شي؟



(c) ketabton.com: The Digital Library

**يوولسم لوست:**

# د روژې قضايي

**هدف:** د روژې د قضايې د كيفيت پيژندنه.

**پوښتنې:**

١. ايا د روژې له قضايي سره آشنايي لرې؟

٢. آيا تاسې تر اوسه پوره روژه قضا كړې ده؟

هر مسلمان چې د شرعي عذر له كبله د رمضان د مباركې مياشتې روژه و نه شي نيولى نو بايد قضايي په نورو ورځو كې ونيسي دا مستحب ده چې د قضايي روژې په نيولو كې عجله (چټكتيا) وشي ترڅو د نوى كال د رمضان د رسېد لو مخكې يې خپله قضايي روژه نيولې وي. كه چېرې د قضايي په نيولو كې څه كوتاهي يا ځنډ شوې وي، يادكوم عذر په لحاظ يې ونه شى كولى قضايي روژه ونيسى بايد وروسته له رمضان څخه دهغه قضايي په ځاى كړى او د هرې ورځې روژې څخه لس (١٠) خورده طعام (خواړه) فقيرته وركړى كه چېرې د څو مياشتو قضايى د چاپه غاړه وى بايد د ټولو قضايى ونيسي، د قضايي په نيولو كې بايد د لومړي رمضان څخه پيل وكړي.

كه څوك پرته له شرعى عذر څخه (په قصد سره) د رمضان د مياشتې روژه ماته كړې بايد هم قضايي اداء كړي او هم كفاره وركړي.



(c) ketabton.com: The Digital Library

د هري ورځې کفاره يو له درېيو شيانو څخه ده:

۱. شپېته ورځې روژه نيول.

۲. شپېتو مسکينانو ته طعام ورکول.

۳. يو مريي (غلام) آزاد ول.

**فعاليت (هڅوني):**

۱. زده کوونکي په دو کسيزو ډلوکې د هغه ځای په هکله چې يوازې قضايي پرې واجبېږی او هغه ځايونو کې چې قضايي او کفاره پرې لازمېږي يو د بل څخه پوښتنې وکړي.

**ارزونه:**

په کومو ځايونو کې قضايي او کفاره واجبېږی؟



(c) ketabton.com: The Digital Library

دولسم لوست:

# د فطر زکات (صدقه)

**هدف:** د فطر د صدقې سره آشنايي.

**پوښتنې:**

۱. آيا د فطر صدقه پېژنئ؟
۲. آيا د فطر صدقه ورکوئ؟

د اسلام مبين دين د ټولنيز عدالت دين دی، تل زيار باسي چې مسلمان يو له بل سره مرسته وکړي. زموږ دين کې عبادت او د دنيا کارونه يو له بل سره اړيکې لري د روژې په مبارکه مياشت کې مسلمانان يوه مياشت روژه نيسي. فقراء او بېوزله د لوږې او تندې احساس تجربه کوي.

الله تعالی حکم کړی دی چې د مياشتې په پای کې دې هغه مسلمانان چې د ژوند بنه يې ښه وي او د يوه کال د مصرف کولو مالي توان لري يوه اندازه اوربشې غنم، خرما، مميز يا د هغوی قيمت فقيرانو ته ورکړي.

په علمي رسالو (کتابو) کې يې د فطر د صدقې اندازه داسې ټاکلې ده:

هغه څوک چې د اختر په شپه عاقل او بالغ وي فقير او د چا غلام نه وی بايد په خپله دی او هغه څوک چې دی اعاشه کوي، د هر تن په برابری کې يوه پيمانه تقريباً درې کېلو غنم يا اوربشې، خرما، مميز، يا وريجې يا ذرت (جواري) يا د دغو مثل مستحق ته ورکړي که چېرې د دغو شيانو قيمت هم ورکړی روا دی.



(c) ketabton.com: The Digital Library

### فعالیت (هڅوني)

۱- د فطر صدقه چې یو ډول عبادت دی په څه ډول ټولنیز اړخ پیدا کوی؟

۲- که ستاسې په کور کې اوه (۷) تنه وي څوکېلو باید د فطر صدقه ورکړئ؟

### ارزونه:

آیا زده کوونکو د فطر د صدقې اندازه او ارزښت پېژندلی دی؟



(c) ketabton.com: The Digital Library

**دیارلسم لوست:**

# اعتکاف

**هدف:** د اعتکاف له مفهوم او عمل سره آشنایي

**پوښتنې:**

۱- آیا تاسې د اعتکاف په معنا پوه یاست؟

۲- آیا تاسې اعتکاف کړی دی.

په تېرو ادیانو کې داسې معموله وه چې یوې ډلې چې غوښتل به یې چې الله تعالی ښه وپیژني یا په راحت سره د الله تعالی عبادت وکړي، د عبادت لپاره به یوه ځای یا غار ته تلل، په تفکر او عبادت به یې پیل کاوه، دا کار به د دې سبب وګرځېد چې دوی ټولنیز ژوند پوره پرېږدي او په انزوا (تنهایي) سره ژوند وکړي.

کله چې د اسلام مبین دین د انزوا (ګوښه ناستې)، او ټولنیز ژوند پرېښودل پوره منع کړي دي لکه چې حضرت محمد رسول الله(ص) فرمایلي دي (زما دین د رهبانیت دین نه دی نو) کله چې انسان د خپل ځان او خپل خدای تعالی په هکله تفکر کولو لپاره آرامتیا ته اړتیا لري نو د اسلام مبین دین د رهبانیت په ځای اعتکاف مشروع او پیشنهاد کړی دی.

اعتکاف یو ډول عبادت دی چې یو مسلمان څو ورځې جامع جومات ته ځي او د ژوند له آشوب او غوغا څخه فاصله نیسي او د الله تعالی په عبادت او خلقت کې تفکر کوي. اعتکاف یو عبادت دی چې باید په خپله زده کوونکي علمي کتابونو ته مراجعه وکړي او له هغوی څخه زیات معلومات ترلاسه کړي.



(c) ketabton.com: The Digital Library

**فعالیت (هڅونې):**

۱- د اسلام مبین دین کوم شی یی د گوشه گیری په ځای مشروع کړی دی؟

۲- آیا ستاسې له نظره اعتکاف او رهبانیت یو له بل سره څه توپیر لري؟

**ارزونه:**

آیا زده کوونکو د اعتکاف مفهوم او هدف پیژندلی دی؟



(c) ketabton.com: The Digital Library

**څوارلسم لوست**

# زکات

**هدفونه:**

۱- د زکات له احکامو سره آشنايي.

۲- د هغو شيانو پېژندنه چې زکاتورباندې تعلق نيسي.

**پوښتنې:**

۱- آيا د زکات په معنا پوه ياست؟

۲- آيا پوهېږی چې زکات په کومو شيانو پورې تعلق نيسي؟

الله تعالی د فقيرانو او محتاجانو د ژوند د تامين په لحاظ پر بډايانو او ثروت لرونکو باندې زکات واجب کړی دی. زکات په دی معنا سره دی چې هغه کسان چې الله تعالی مال او ثروت ورته ورکړی دی، په کال کې يوه ټاکلې شوې اندازه له خپل مال څخه فقيرانو او محتاجانو ته ورکړي.

الله تعالی په قران عظيم کې په زکات زيات تاکيد کړی دی او په ډېرو ځايو کې يې د لمانځه سره يو ځای ياد کړی دي چې له دې خبرې څخه د زکات ارزښت او اهميت ښکاري.

## زکات په کومو کسانو واجب دی؟

زکات په هغو کسانو واجب دی چې لاندې شرايطو لرونکی وي:

۱- بالغ وي ۲- عاقل وي ۳- په مال کې د تصرف کولو توان ولري.

زکات په کومو شيانو پورې تعلق نيسي؟



(c) ketabton.com: The Digital Library

که څه هم دا مستحب ده چې له ټولو زراعتي محصولاتو څخه چې په کیلو او وزن سره یې پلورنه او پیرودنه کېږي، همدا راز د تجارت له عوایدو څخه زکات ورکړو ولې په لاندې مالوکې زکات واجب دی:

۱- اوښان، غوایان او پسونه

۲- غنم، اوربشی، خرما او ممیز

۳- سره زر او سپین زر

په کوم وخت کې په مالو زکات واجب کېږي؟

زکات هغه وخت واجب کېږي چې یاد شوي مالونه د نصاب حد ته ورسېږي یعنې یوې ټاکل شوې اندازې ته ورسېږي د مثال په توګه هغه څوک چې یو (۱) یا دوه (۲) اوښان لري په هغه باندې زکات نه دی واجب. ولې کله چې پنځه اوښان ولري باید یو پسه زکات ورکړي. د زکات نصابونه په فقهي کتابو کې بیان شوی دي. تاسې کولی شی هغو ته مراجعه وکړی او خپل معلومات ورڅخه ترلاسه کړئ.

**فعالیت (هڅونې):**

۱- په کومو کسانو زکات واجب دی؟

۲- زکات په کومو مالو پورې تعلق نیسي؟



(c) ketabton.com: The Digital Library

# د زکات د مصرف ځایونه

**هدفونه**: د زکات د مصرف له ځایو سره آشنایي

## پوښتنې:

۱- آیا پوهېږئ چې زکات کومو کسانو ته ورکول کېږي؟

الله تعالی زکات د محتاجانو د حاجت د رفع کولو لپاره واجب کړی دی، بنا پر دې ډېره مهمه ده چې پوه شو چې زکات په کوم ځای کې مصرف کړو الله تعالی په قران کریم کې د زکات د مصرف کولو ځایونه ټاکلی دي:

۱- فقیران (فقراء): هغه کسان چې د یوه کال لپاره د خپلې کورنۍ مالی مدرک ونه لري.

۲- مساکین: یعنی هغه کسان چی هیڅ مال ونه لری.

۳- د زکات عاملین: هغه کسان چې د زکات، را ټولونې، حساب، ساتنې، کار په غاړه لري.

۴- هغه کافرانو ته چې کولی شو د زکات په ورکولو سره د هغوی زړونه اسلام ته مایل کړو یا هغه مسلمانان چې د عقیدې په لحاظ ضعیف وي او د زکات په ورکولو سره کېدی شي هغوی په خپله اسلامي عقیده پاتې شي.

۵- مریي (غلام): هغه غلام چې د خپل مالک سره یې تعهد کړی وي چې یوه اندازه مال به ورکوی او هغه به آزاد وي.

۶- هغه قرضداران چې نه شي کولی خپل قرض اداء کړي.

۷- خیریه کارونه پرې کول لکه پل، جومات، ښوونځي پرې جوړول.



(c) ketabton.com: The Digital Library

۸- ابن سبیل: یعني هغه کسان چې د خدای تعالی په لاره مسافرت کوي او په سفر کې خپلی پیسی خلاصی کړی وی، څوک پور هم نه ورکوي.

**فعالیت (هڅونې):**

۱- د زکات د مصرف کولو په ځایو باندی بحث وکړی.

۲- آیا ستاسې په همسایه ګانو کې څوک شته دي چې زکات ورکول ورته روا وي؟

**ارزونه:**

۱. آیا زده کونکي کولای شی د زکات د مصرف ځایونه بیان کړي؟



(c) ketabton.com: The Digital Library

# خمس

**هدف:** د خمس د مفهوم او احکامو سره آشنا کیدل.

**پوښتنې:**

۱- ایا خمس پیژني؟

۲- آیا پوهیږئ چې خمس په کومو شیانو کې واجبیږي؟

په تیرو درسونو کې مو ویلي وو چې خدای ﷻ د فقر، غریبی، بیچارګی او محتاجو کسانو د لګښتونو د تامین لپاره زکات ورکول په هغو کسانو چې مالي وضعه یې ښه وي واجب ګرځولی دی.

الله ﷻ د زکات د مصرف کولو اجازه ساداتو او د پیغمبر (ص) اولادې ته نه دی ورکړی او د د فقیرو ساداتو او څه نورو عمومي مصارفو لپاره خمس واجب کړی دی.

خمس په اوو شیانو کې واجبیږي.

۱. د کسب او کار په منفعت او هغه ګټه کوم چې د تجار صناعت او نورو لارو څخه لاسته راځی باید د دغو یوه پنځمه برخه ورکړي.

۲. معدن: که چیرته کوم کس معدن پیدا کړ او هغه یې راوویستنو باید د دغه یو د دریمې برخې خمس ورکړي.

۳. خزانه: که کوم کس خزانه پیدا کړه باید د هغه خمس ورکړي.

۴. د حلال مال ګډول د حرام سره: که چیرته حلال مال د حرام مال سره په کومه وجه ګډ شي او انسان ونشي کولی چې هغه جلا کړي باید د دغه څخه خمس ورکړي.



(c) ketabton.com: The Digital Library

۵. هغه قیمتي کاڼي، لعل جواهر چې د لامبو وهلو په واسطه د بحر څخه راوځي باید خمس ورکړي.

۶. غنیمت په جنګ کې: که چیرته د کفارو سره په جنګ کې غنیمت لاسته راشي باید د هغه خمس ورکړ شي.

۷. په هغه ځمکه کې چې کافر ذمي یا د مسلمان څخه ئي اخلي هغه کافر ذمي چې په اسلام حکومت کې ژوند کوي او باید خمس ورکړي.

خمس نور ډیر احکام لري چې د ضرورت په وخت کې باید عملیه رسایلو ته مراجعه وشي.

### فعالیت (هڅونې):

۱- زده کوونکي دې په څو نفري ګروپونو کې درس ووایي او خپلو منځو کې دې بحث وکړي.

۲- هغه اووه شیان چې خمس په کې واجبیږي خپلو کتابچو کې ولیکئ.

### ارزونه:

۱- آیا زده کوونکي کولی شي چې د خمس او زکات په مینځ کې فرق وکړي؟

۲- آیا هغوی کولی شي چې هغه ځایونه چې خمس په واجبیږي بیان کړي.



(c) ketabton.com: The Digital Library

# حـــج

**هدف:** د حج د مسايلو سره آشنايي.

**پوښتنې:**

۱- آيا د حج سره آشنايي لرئ؟

۲- ستاسې له نظره حج څه ګڼې لري؟

موږ مسلمانان هر چېرته چې يو، په لمونځونو کې خپل مخونه د کعبې شريفې لورته اړوو. کعبه ترټولو پخوانۍ خونه ده، او په مکه مکرمه کې ده چې الله تعالی هغه د مسلمانانو قبله ګرزولې ده، سربېره پر دې، الله تعالی حکم کړی دی چې د ټولې نړۍ يوه ډله مسلمانان دې را ټول شي او د حج عبادتي، عمل دی اداء کړي. حج يې په هغو مسلمانانو چې جسمي او مالي توانايي لري واجب کړی دی. البته هغه هم په عمر کې يو ځل واجب دی. او له يو ځل څخه زيات واجب نه دی ولې ډېر ثواب لري.

د حج کولو عملونه تر يوې اندازې پورې ګران دی ولې ښه ده چې په اجمالي توګه د هغه له ځينو مراسمو سره آشنا شو، نو په مختصره ډول توضيح ورکوو.

**حج پر دريو ډولو ويشل کيږي:**

۱- حج تمتع، د هغو کسانو لپاره چې استوګن ځای يې د مکې سره ۹۰ کيلو متر واټن ولري.

۲- حج افراد



(c) ketabton.com: The Digital Library

۳- **حج قِران**: هغه کسان چې په مکه او د هغې په شاوخوا کې ژوند کوي کولای شي حج افراد او یا حج قِران سرته ورسوي.

**فعالیت (هڅونې)**:

۱- د لوست خلاصه په لسو (۱۰) کرښو کې ولیکئ.

۲- د حج معنوي او ټولنیزې ګټې ولیکئ.

**ارزونه**:

۱. آیا زده کوونکي کولای شي د حج د مراسمو اهمیت بیان کړي؟



(c) ketabton.com: The Digital Library

اتلسم لوست:

# د حضرت رسول الله(ص) او امامانو د قبر زیارت کول

**هدف:** د رسول الله (ص) د مرقد او امامانو د مرقدو د زیارت سره آشنایي.

**پوښتنې:**

۱- آیا تاسې د رسول الله مرقد او د ځینو امامانو د مرقدونو زیارت ته تللی یاست؟

۲- ستاسې په نظر دا زیارت څه ګټې لري؟

په دی پوهېږو چې حضرت محمد صلی الله علیه واله وسلم د انبیاء وو (ع) وروستنی نبی دی د آنحضرت او د هغه له اولادې او صحابو (یارانو) سره مینه لرل د هر مومن خصلت دی او د آنحضرت (ص) او یوې ډلې مطهرې او لادې او ځینو اصحابو مرقدونه په مدینه منوره کې دي (رضي الله تعالی عنهم) په دی اساس حجاج د ایمان او محبت په غوښتنه د حج د اداء کولو څخه وروسته مدینې منورې ته ځي، سر بېره په دې چې هلته د حضرت رسول الله(ص) پاکې کورنۍ او اصحابو د مرقدونو په زیارت سره دینې تنده ماتوي.

په دې اساس مدینې منورې ته تلل د حج له مناسکو څخه نه دې بلکې د مسلمانانو د اعتقاد او محبت غوښتنه ده کله چې د قبرو زیارت کول د اسلام په مبین دین کې جائز دی، نو د حضرت رسول الله صلی الله علیه وسلم د مرقد زیارت له لوی ثواب څخه خالي نه دی.

او دا هل بیت او اصحابو (رضی الله تعالی عنهم زیارت هم چې په ولایت او کرامت کې یې اختلاف او شک نشته د الله تعالی په وړاندې د اجر او ثواب څخه خالي نه دي.

**فعالیت (هڅونې):**

۱- درس په چوپتیا سره مطالعه کړئ.

۲- د درس د محتوی په هکله یو له بل څخه پوښتنې وکړی.



(c) ketabton.com: The Digital Library

# دريمه برخه: اخلاق او اداب

نولسم لوست:

## د ټولنې د افرادو حقوق

**هدفونه:**

۱. د اسلام د پيغمبر د اخلاقو سره آشنايي.

۲. د همکارۍ او يو له بل سره د مرستې ارزښت.

**پوښتنې:**

۱. آيا د حضرت رسول الله صلی الله عليه و اله وسلم له اخلاقو سره آشنايي لرئ؟

۲. آيا کولی شی د حضرت رسول الله (ص) د نيکو اخلاقو څخه ځونکتې بيان کړئ؟

انسان اجتماعي موجود دي يعنی تل يو له بل سره ژوند کوي، نه شي کولی لکه ځينې حيوانات په يوازېتوب سره ژوند وکړي، ټولنيز ژوندون پرته له قانون، حقوقو، او تکليفو څخه امکان نه لري. د اسلام په ښکاره دين کې هم حقوق په نظر کې نيول شوي دي چې د ټولنې افراد بايد د هغوی مراعات وکړي. دا ډول حقوقو ته حق الناس ويل شوي دي. د خلکو د حقوقو اداء کول د اسلام د رهبرانو په خبرو کې په ډېرو لوړو تعبيرو سره د تاکيد مورد ګرزيدلی دي چې د هغوی له جملې څخه:

۱. د اسلام ډېر محترم پيغمبر(ص) فرمايلی دی (من حبس عن اخيه المسلم شيئا من حقه حرم الله عليه برکة الرزق الاان يتوب) يعني هر ځوک چې د مسلمان ورور له حقوقو څخه کوم شی منع کړي الله تعالی په هغه باندې د رزق برکت حرام ګرزوي مګر دا چې توبه وباسي.



(c) ketabton.com: The Digital Library

۲. اما جعفر صادق فرمايلي دي (ماعبد الله بشئ افضل من اداء حق المومن) يعني الله تعالى په کوم شی پرته له دې چې د مومن حق اداء کړي په ښه توګه يې عبادت نه دی شوی يعنی ډېر ښه عبادت د مومن د حق اداء کول دي. دا بديهي خبره ده چې د نورو حقوق په خاصو ځايونو يا ځانګړيو افرادو پورې منحصرنه ده بلکې په عامه توګه هر شخص ته شامل دی، لوی وي که وړوکی بيګانه (پردی) که خپل آشنا مسلمان وي که غير مسلمان، ښځه وی که نارينه.

آن تر دې چې د اسلام په سپېڅلي دين کې حيوانات (ژوی) هم حق لري چې رعايت کول يې پر مسلمان لازم دی.

له بلې خوا هره ډله په هغه تناسب سره چې د انسان سره تعلق لري د خپلو ښکليو حقوقو څخه برخه لرونکی کېږي چې ممکنه ده د نورو له حقوقو څخه توپېر ولري د مثال په توګه اولاد او والدين هر يو ځانګړي حقوق په غاړه لري، ورور او خور بېل بېل حقوق د والدينو په پرتله په انسان لري همداراز مومنان هم يو په بل باندې حقوق لري چې نور (غير مسلمان) ور څخه بې برخې دي.

## کوم حقوق؟

ډېر حقوق وجود لري چې د ټولنې افراد بايد هغه په خپل منځو کې مراعات کړی چې په يوه مهمه برخه يې دلته مرور کوو:

۱. يو او بل ته سلام اچونه (وېينه).
۲. يو او بل ته بايد آزار ورنکړو.
۳. په وعدو باندې بايد وفا وکړو.
۴. رښتيا ويل.



(c) ketabton.com: The Digital Library

۵. د چا په مال باندې باید تېری ونه کړو.

۶. هغه کار چې نورو ته ور باندې آزار رسیږي باید ویې نه کړو.

۷. د چا غیبت ونه کړو.

۸. په چا پسې تهمت ونه وو ایو.

**فعالیت** (**هڅونې**):

۱. د کلي د روحاني په مرسته پنځه نور حقونه په خپلو کتابچو کې ولیکئ او په ټولګی کې یې بیان کړئ.

۲. یو له دوو مبارکو حدیثونو څخه چې د درس (په متن) کې مو لوستلي دي له یاده (حفظ) کړئ.

**ارزونه**:

۱. آیا زده کوونکی د نورو د حقوقو مفهوم زده کړی دی؟

۲. آیا زده کوونکی کولی شي ځینې نور حقوق په یادشویو حقوقو باندې زیات کړي چې په درس کې یې ویلي دي؟



(c) ketabton.com: The Digital Library

شلم لوست:

# مرستـــه او همـکاري

**هدفونه:**

١. د مرستې او همکارۍ له مفهوم سره د زده کوونکو آشنايي.

٢. په زده کوونکو کې د مرستې او همکارۍ احساس پياوړی کول.

**پوښتنې:**

١. آيا د مرستې او همکارۍ معنا مو زده ده؟

٢. ستاسې له نظره مرسته او همکارۍ په ژوند کې څه ارزښت لري؟

انسان نه شي کولی ټول کارونه په خپله تر سره کړي، ځينې داسې کارونه دي چې پرته له دوو (٢) يا زياتو تنو څخه نه تر سره کېږي، ځينې داسې کارونه هم شته چې په يوازيتوب هم تر سره کېدی شي ولې په څو تنو سره ښه او په آسانۍ سره تر سره کېږي.

همدا سبب دی چې د اسلام مبين دين موږ تعاون (مرستې) او همکارۍ ته بللی يو الله تعالی په قرآن عظيم کې فرمايلی دی (په ښو او نيکو کارو کې يو له بل سره مرسته وکړی او په ګناه او دښمنۍ کې مرسته مه کوئ).

يوه ورځ حضرت رسول لله صلی الله عليه واله وسلم او وفا لرونکی ياران يې په سفر تللی وو، د يوی مسافې له وهلو څخه وروسته د اوبو يوه ځای ته ورسيدل ټولو داسې نيت وکړ چې دلته خپلې ستومانی ليرې کولو او د غذا د خوړلو لپاره به تم کېږو او ويې غوښتل چې يو پسه حلال او کباب يې کړي.

نو دغذا د برابرولولپاره هر چا يو کار په غاړه واخيست.

• يوه وويل زه پسه حلا لوم.



(c) ketabton.com: The Digital Library

- بل وویل زه به یې له پوستکي څخه و باسم.
- بل وویل زه یې کباب کوم.
- پیغمبر اکرم(ص) وویل زه به لرګي (خس) را ټول کړم.

د آنحضرت یارانو وویل: (ای رسول الله (ص)! تاسې زحمت مه باسئ او آسوده کېنئ، موږ ټول شیان تیاروو، هیڅ اړتیا نشته چې تاسې کوم کارتر سره کړئ! رسول الله (صلی الله علیه واله وسلم) وویل: زه پوهېږم چې تاسې ټول کارونه ترسره کوی ولې الله تعالی هغه بنده چې ځان د نورو په مینځ کې جدا (او ممتاز ګڼي او کار نه کوي، دوست نه ګڼي وروسته حضرت رسول الله (صلی علیه و آله و سلم) دښتې ته لاړ یوه برخه لرګي(خس) یې را ټول کړل او رایې وړل.

**فعالیت (هڅوني):**

۱. آیا تاسې فکر کړی دی که چېرې په ټولنه کې مرسته موجود نه وای څه کېدل؟
۲. څه ډول همکاری ستاسې په منطقه کې وجود لري؟



(c) ketabton.com: The Digital Library

یو ویشتم لوست:

# په اسلام کې برابرې (مساوات)

**هدف:**

د مساوات له اصل سره آشنايي

**پوښتنې:**

۱. ستاسې له نظره د يوې ټولنې افراد د قانون په وړاندې برابر دي که نه؟
۲. د اسلام د مکتب له نظره په دې باره کې څه پوهيږئ؟

د تاريخ په اوږدو کې داسې افراد او ډلې موجودې وې چې خپل ځانونه له نورو څخه وړاندې او بهتره ګڼل يوې ډلې د خپلې برترئ نسبت نژاد ، قام، او کورنۍ ته کاوه. بلې ډلې د خپلې برترۍ عامل مقام، ټولنيز موقف، او خپله کورنۍ بلله، بلې ډلې مال او ثروت د خپلې برترې سرمايه بلله، دا فکر د دې سبب کيده چې دوی خپلو ځانو ته ډېر امتيازات قايل شي او نور له خپلو منل شويو حقوقو څخه بې برخې کړي. ټول هغه ظلم او ستم چې په انساني تاريخ کې وجود لري د تبعيض د روحيې په اساس ولاړ دي. هغه ظلمونه چې د يوې ډلی خود خواه خلکو له خوا په نورو تحميل کېږي ډېر زيات دی آن تر دې پورې چې د هغوی بيا نول مشکل کار دی ځکه داسې هم پيښه شوې ده چې يوې ډلې انسانانو نور خپلو عبادتوته را بللی دی، الله تعالی عادل دی، هر ډول ظلم او ستم يې منع کړی دی، لاندې مبارکو آيتوته پاملرنه وکړئ (والله لايحب الظالمين) يعنی الله تعالی ظالمان دوست نه ګڼی د ال عمران سوره **۵۷** آيت (ان الله يحب المقسطين) يعنی الله تعالی عدالت کوونکی دوست ګڼي دمايده سوره **۴۲**. د اسلام ګران رسول (ص) تل په خپلو وېناوو (قول) او عمل سره اسلامي عدالت مسلمانانو ته ورښودلی ده يوه ورځ يې خلک مخاطب کړل او ويې ويل: (ای خلکو



(c) ketabton.com: The Digital Library

ستاسې خدای یو دی، پلار ستاسی یو دی (آدم ع) پوه شي چې عربي د عجمي په پرتله، عجمي د عربي په پرتله، تور پوستی دسور پوستی او سور پوستکی د تور پوستی په پرتله برتری نه لري، مګر په تقوی سره. د حضرت رسول الله دا حدیث د قرآنکریم دې آیت ته اشاره ده چې فرمایلي دی (ان اکر مکم عند الله اتقکم) یعنی د الله تعالی په وړاندې هغه د عزت او بزرګواری لایق دی چې تقوی ولري.

**فعالیت (هڅونې):**

د لوست خلاصه په لسو کرښو کې ولیکئ او په ټولګی کې یې ووایې.



(c) ketabton.com: The Digital Library

دوه ویشتم لوست:

# امانتداري (امانت ساتنه)

## هدف:

د امانتدارۍ له اهمیت سره آشنایي.

## پوښتنې:

۱. اما نتداري څه ارزښت لري؟
۲. که چېرې خلک یوه اونۍ په امانتو کې خیانت وکړي څه به وشي؟

یو له ډېرو منل شویو او ښو خصلتو څخه امانتداري ده.

په ټولو ادیانو پـه ځـانګړې توګـه د اسلام پـه سپېڅلي دیـن کې پـه امانتـدارۍ زیاته توصیه شوې ده دقرآنکریم په یوه مبارک آیت کې راغلي دي (ان الله یـامرکم ان تودوا الامانات الی اهلها) د نساء سوره **۵۸** آیت.

یعنی الله تعـالی تاسې تـه امر کوي چې امانتونـه د هغـوی اهل تـه وسپارئ، حضرت علی کـرم الله وجهـه فرمـایلی دی چې حضرت رسـول الله (ص) څـو لحظې مخکې له رحلت څخه درې ځله ما ته وفرمایل: ای علی امانت یې څښتـن ته وسپاره! په قرآنکریم او نبوي احادیثو کې د امانت په اداء کولو باندې زیات تاکیـد شـوی دي چې دا ټول په دې دلالت کوي چې امانتداري د اسلام په مبین دین کې زیـات ارزښت لري حضرت رسول الله (ص) مخکې له بعثت څخه د امـین لقب درلـود او پـه (محمـد امین) سره مشهور وو خلکو قېمت لرونکي شیـان ده تـه ایـښودل، د هجـرت پـه شپـه (لیلة المبیت) چې رسول الله (ص) له مکې مکرمې څخه په پټه سره مدینی منورې تـه



(c) ketabton.com: The Digital Library

تلل د خلکو امانتو نه چې زیات یې د کفاروو د ام ایمن سره کېښودل او حضرت علي ته یې و فرمایل چې په یوه مناسب وخت کې هغه د هغوی څښتنانو ته وسپاری.

باید یاده کړو چې امانت کله د یوه شخص مال وي د مثال په توګه ستا همصنفي خپله کتابچه له ستاسې سره د امانت په توګه ږدي نو ته وظیفه لرې چې کله هغه در څخه وغواړي ورته ویې وسپارې، که چېرې خدای د نه کوی – هغه خیانت کړي وریې نه کړی په هغه دې ظلم کړی دی، د هغه قرضدار (مدیون) یې، کله امانت د ډېرو خلکو او عام مال وي د مثال په ډول مکتب چې تاسې درس په کې وایي د افغانستان د ټول ملت مال دی، نو زده کوونکي او ښوونکي ټول د نده لري چې د هغه په ساتنه کې زیار وباسي که چېرې څوک د هغه په ساتنه کې زیار نه باسي د ټول ملت په وړاندې مسؤول دی.

**فعالیت (هڅونې):**

۱. آیت کریمه د معنا سره له یاده (حفظ) کړئ.

۲. لږ تر لږه د امانتدارۍ څلور ګټې ووایې.



(c) ketabton.com: The Digital Library

**درويشتم لوست:**

# نظافت (پاکوالی)

**هدف:** د پاکوالی له ارزښت سره آشنايي.

**پوښتنې:**

۱. ستاسې له نظره نظافت څه ګڼې لري؟
۲. تاسې خپل پاکوالی ته څو مره ارزښت ورکوی؟

انسان په طبيعي ډول سره پاکوالی ښه ګڼې او له ناولتيا څخه کرکه کوي، پاکوالی زياتې ګټې لري، د انسان د روغتيا سبب کيږي، د الله تعالی د رضايت سبب کيږي، او خلک هم خوشحاله کوي.


اسلام د پاکي او پاکيزه ګي دين دی حضرت رسول الله صلی عليه و اله وسلم فرمايلی دی (النظافة من الايمان) يعنی پاکوالی د ايمان جزء دي کله چې د اسلام د مبين دين احکامو ته په ځير سره نظر کوو، دې ته مو نظر را ګرزی چې الله تعالی غواړي بنده ګان يې پاک او سپېڅلي انسانان وي، ناولي او نا منظم انسانان د الله تعالی ښه بنده ګان نه شو فرض کولی لکه چې د عبادت اداء کول اودس کولو او غسل ته اړتيا لري نو بايد په درست ډول سره په ځانګړيو ځايونو کې يې ترسره کړو. پاکوالی کله فردي وي او په شخص پورې اړه نيسي مثلاً مسواک وهل د دې سبب کيږي چې د انسان غاښونه پاک او سالم پاتې شي. که څه هم مسواک وهل په ټولنيزو اړيکو باندې تاثير اچوي، ځکه غاښونه ښکلی او د خولې بوی ليري کوي او خلک د هغه له خبرو څخه په تنګ نه راځي ولې سلامتي يې زياتره په خپله شخص ته رسيږي کله نظافت په ټولنه پورې اړيکی هم پيدا کوي مثلا کله چې موږ په ښار کې ژوند کوو، بايد کثافتونه په هغه ټاکل شويو



(c) ketabton.com: The Digital Library

کثافتدانیو کې واچوو چې د همدې مرام لپاره ښاروالیو ټاکلي دي په کوڅه یا د ګاونډي د دروازې اونورو په وړاندې یې خالي نه کړو ځکه که چېرې په داسې ځایو کې یې خالي کړو د خلکو د ناروغتیا سبب کېږي، نو جوته ده چې د نورو په حقوقو مو تجاوز کړی دی او ناروغ کړي مو دي.

نو باید زیار و باسو چې هم په فردي او هم عمومي امورو کې د نظافت او پاکوالی رعایت وکړو ترڅو د الله تعالی ډېر ښه بنده ګان وګرزو.



**فعالیت (هڅوني):**

۱. په لسو کرښو کې ولیکئ چې څه ډول فردي او عمومي پاکوالی باید رعایت کړو؟
۲. دا خبره توضیح کړئ چې الله څرنګه غواړي چې بنده ګان یې پاک او منظم وي.



(c) ketabton.com: The Digital Library

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**